المملكة العربية السعودية
وزارة الشؤون الإسلامية والدعوة والإرشاد
وكالة المطبوعات والبحث العلمي

# د ايمان د اركانو شرح او بيان

ليكونكئ
فضيلة الشيخ محمد بن صالح العثيمين



بشتو

بسم الله الرحمن الرحيم

## (سريزه)

إن الحمد لله نحمده ونستعينه ونستغفره ونتوب إليه، ونعوذ بالله من شرور أنفسنا ومن سيئات أعمالنا، من يهده الله فلا مضلّ له ومن يضلل فلا هادي له، وأشهد أن لا إله إلا الله وحده لا شريك له وأشهد أن محمداً عبده ورسوله، صلّى الله عليه وعلى آله وأصحابه ومن تبعهم بإحسان وسلّم تسليماً.

أما بعد:

دتوحيد علم تر ټولو غوره او داسې علم دی چې ډير قدر او منزلت لري او زده کړه يې تر هر څه زياته لازمي او ضروري ده، ځکه چې

په دې علم سره الله تعالى او دهغه نومونه او صفات او پر بندګانو باندې دهغه حقوق پيژندل کيږي، او دا علم دالله تعالى دلارې کيلي (چابي) او دهغه دشريعت او احکامو اساس او بنسټ دى، او له همدې کبله ټولو پيغمبرانو په اتفاق سره د توحيد لوري ته بلنه کړې ده، الله تعالى فرمايي: ﴿ وَمَآ أَرۡسَلۡنَا مِن قَبۡلِكَ مِن رَّسُولٍ إِلَّا نُوحِيٓ إِلَيۡهِ أَنَّهُۥ لَآ إِلَٰهَ إِلَّآ أَنَا۠ فَٱعۡبُدُونِ ﴾[1] «او ستا نه مخکې مو هيڅ پيغمبر نه دى استولى مګر دا وحي او امر مو ورته کړى دى چې بيشکه زما پرته بل

---

(١) الأنبياء (٢٥).

مستحق او حقدار دعبادت او بندگۍ نشته؛ نو یوازی زما عبادت وکړئ».

او الله تعالی پخپل حق کښې د وحدانیت او یو والي گواهي ورکړې ده، او همدا راز پرښتو او علماوو هم دا گواهي ورکړې ده، الله تعالی فرمايي: ﴿ شَهِدَ ٱللَّهُ أَنَّهُۥ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ وَٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ وَأُوْلُواْ ٱلۡعِلۡمِ قَآئِمَۢا بِٱلۡقِسۡطِۚ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡحَكِيمُ ﴾[1] «**الله تعالی** گواهي ورکړی ده چي بیشکه دده پرته دعبادت او بندگۍ بل مستحق او حقدار نشته، او پرښتو او علماوو هم دا گواهي ورکړې ده، په داسی حال کښې چي په

(۱) آل عمران (۱۸).

عدل ولاړ دی، دهغه پرته دعبادت او بندګۍ بل مستحق او حقدار نشته، غالب اود حکمت خاوند دی».

او کله چي توحيد دومره عالي شان لري نو ښايي چي هر مسلمان هغې ته په زړه کړه او ښوونه او فکر او سوچ او عقيده او باور لرلو سره پوره توجه او پاملرنه وکړي تر څو په ډاډ او اطمينان سره خپل دين په روغ بنسټ ودروي او بالآخره دهغې په ګټو او نتائجو سره خوښ او نيکبخته وي.

## (لمړی فصل)

## داسلام دین

**داسلام دین:** هغه دین دی چې الله تعالی پرې محمد ﷺ را استولی دی او نور ادیان یې پرې ختم کړي او پای ته رسولي دي، او دا دین یې دخپلو بندگانو لپاره پوره او تکمیل کړی دی او په دې سره یې په دوی باندې خپل نعمت پوره کړی دی، او همدا یې د دوی لپاره د دین په توگه خوښ کړی دی، او له هیچا څخه به ددې پرته بل دین ونه منل شي.

الله تعالی فرمايي: ﴿ مَّا كَانَ مُحَمَّدٌ أَبَآ أَحَدٍ مِّن رِّجَالِكُمْ وَلَٰكِن رَّسُولَ ٱللَّهِ وَخَاتَمَ ٱلنَّبِيِّـۧنَ ﴾(۱) «محمد ﷺ ستاسو له سړو (نارینه وو) څخه د هیچا پلار نه دی، خو لیکن دالله پیغمبر او دپیغمبرانو ختمونکی دی».

او فرمايي: ﴿ ٱلْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ وَأَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِي وَرَضِيتُ لَكُمُ ٱلْإِسْلَٰمَ دِينًا ﴾(۲) «نن ورځ مې ستاسو لپاره ستاسې دین پوره او تکمیل کړ، او پرتاسې مې خپل نعمت تر سره کړ او اسلام مې ستاسې لپاره د دین په توګه خوښ او غوره کړ».

---

(۱) الأحزاب (٤٠).
(۲) المائدة (۳).

او فرمايي: ﴿ إِنَّ ٱلدِّينَ عِندَ ٱللَّهِ ٱلۡإِسۡلَٰمُ ﴾[(١)] «بې شکه د الله تعالى په وړاندې (منل شوی) دين اسلام دی».

او فرمايي: ﴿ وَمَن يَبۡتَغِ غَيۡرَ ٱلۡإِسۡلَٰمِ دِينٗا فَلَن يُقۡبَلَ مِنۡهُ وَهُوَ فِي ٱلۡأٓخِرَةِ مِنَ ٱلۡخَٰسِرِينَ ﴾[(٢)] «څوك چې له اسلام څخه پرته بل دين وغواړي (انتخاب کړي) نو هيڅکله به ور څخه ونه منل شي او په آخرت کښې به له زيان کارانو او تاوانيانو څخه وي».

او الله تعالى په ټولو خلکو باندې دا فرض کړې ده چې په همدې دين (اسلام) سره دده بندګي

(١) آل عمران (١٩).
(٢) آل عمران (٨٥).

وكړي، او خپل پيغمبر ﷺ ته يې په خطاب كولو سره فرمايلي دي: ﴿ قُلْ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ إِنِّى رَسُولُ ٱللَّهِ إِلَيْكُمْ جَمِيعًا ٱلَّذِى لَهُۥ مُلْكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ۖ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ يُحْىِۦ وَيُمِيتُ ۖ فَـَٔامِنُوا۟ بِٱللَّهِ وَرَسُولِهِ ٱلنَّبِىِّ ٱلْأُمِّىِّ ٱلَّذِى يُؤْمِنُ بِٱللَّهِ وَكَلِمَٰتِهِۦ وَٱتَّبِعُوهُ لَعَلَّكُمْ تَهْتَدُونَ ﴾[١] «ووايه (اى پيغمبره) چي اى خلكو بې شكه زه تاسې ټولو ته د الله تعالى رسول او استازى يم، هغه الله چي دځمكې او آسمانونو پادشاهي ده لره ده، دده پرته د عبادت او بندګۍ بل مستحق او حقدار نشته، ژوندي كول كوي او مړه

(١) الأعراف (١٥٨).

کول کوي، نو په الله او دده په هغه اُمّي یعني نالوستونکي او نالیکونکي پیغمبر باندې ایمان راوړئ چي په الله تعالی او دهغه په کلماتو او احکامو باندې ایمان لري او د هغه پیروي (تابعداري) وکړئ ښایي چي لار ومومئ».

او پـه صـحیح مسـلم کښـې لـه ابـو هریـره ﷺ څخه روایت دی چي پیغمبر ﷺ فرمایلي دي: (وَالَّذِيْ نَفْسُ مُحَمَّدٍ بِيَدِهِ لاَ يَسْمَعُ بِيْ أَحَدٌ مِّنْ هذِهِ الْأُمَّةِ يَهُوْدِيٌّ وَلاَ نَصْرَانِيٌّ ثُمَّ يَمُوْتُ وَلَمْ يُؤْمِنْ بِالَّذِيْ أُرْسِلْتُ بِهِ إِلاَّ كَانَ مِنْ أَصْحَابِ النَّارِ)[۱] «زما دې پـه هغـه ذات قسم وي

(۱) صحیح مسلم (کتاب الإیمان، حدیث ۱۵۳).

چې د محمد روح او ځان دهغه په لاس کښې دي چي ددې امت کوم یهودي یا نصراني زما په هکله واوري او بیا په داسې حال کښې مړ شي چي پر هغه څه یې ایمان نه وي راوړی چې زه پرې را استول شوی یم مګر له دوزخیانو څخه به وي».

**او په رسول الله ﷺ باندې دایمان راوړلو مطلب** دهغه څه چي ده راوړي دي له تصدیق یعنې رښتیا بللو سره سره منل اوپه هغې باندې باور کول هم دي، او یوازی تصدیق یعني رښتیا بلل کافي نه دي، اوله همدې کبله ابو طالب پر پیغمبر ﷺ باندې مؤمن نه بلل کیږي که څه هم هغه څه یې رښتیا بلل چې ده راوړي دي او دا ګواهي یې ورکوله چې دا

دین له غورو ادیانو څخه یو دین دی.

**او د اسلام په دین کښې** ټولې هغه ښېګنې او ارزښتونه شته چې په پخوانیو ادیانوکښې موجود وو، او اسلام له نورو ادیانو څخه دا امتیازي ځانګړتیا لري چې د هرې زمانې او هر ځای او هر امت لپاره د عمل وړ دی، الله تعالی خپل پیغمبر ته په خطاب کولو سره فرمايي: ﴿ وَأَنزَلْنَآ إِلَيْكَ ٱلْكِتَـٰبَ بِٱلْحَقِّ مُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهِ مِنَ ٱلْكِتَـٰبِ وَمُهَيْمِنًا عَلَيْهِ ﴾[1] «مونږ تاته په حق سره کتاب نازل کړی دی

(۱) المائدة (٤٨).

چي د مخکینیو کتابونو تصدیق کوي او پر هغې باندې حاکم دی».

او ددې خبرې معنی چي اسلام د هرې زمانې او هر ځای او امت لپاره د عمل وړ دی داده چي په اسلام باندې عمل کول د امت له مصالحو سره په هیڅ وخت او ځای کښې تکړ نه لري، بلکه په اسلام کښې د امت خیر او ښیګڼه او مصلحت دی، او ددې معنی دا نه ده چي اسلام د هرې زمانې او ځای او امت (قوم یا ډلې) تابع دی لکه څنګه چي ځینې خلك یې غواړي.

**او د اسلام دین:** هغه حق دین دی چي الله تعالی د هغه چا لپاره چي په هغې باندې صحیح

عمل وکړي دا ضمانت کړی دی چي مرسته به یې کوي او پرنورو به غلبه او کامیابي ورپه برخه کوي، الله تعالی فرمایي: ﴿ هُوَ ٱلَّذِىٓ أَرۡسَلَ رَسُولَهُۥ بِٱلۡهُدَىٰ وَدِينِ ٱلۡحَقِّ لِيُظۡهِرَهُۥ عَلَى ٱلدِّينِ كُلِّهِۦ وَلَوۡ كَرِهَ ٱلۡمُشۡرِكُونَ ﴾(۱) «الله تعالی هغه ذات دی چي خپل پیغمبر یې په هدایت او حق دین سره را استولی دی تر څو پر نورو ټولو ادیانو غلبه ورکړي که څه هم مشرکان یې بد وګڼي».

او فرمایي: ﴿ وَعَدَ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ مِنكُمۡ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ لَيَسۡتَخۡلِفَنَّهُمۡ فِي ٱلۡأَرۡضِ كَمَا ٱسۡتَخۡلَفَ

---

(۱) الصف (۹).

ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِهِمۡ وَلَيُمَكِّنَنَّ لَهُمۡ دِينَهُمُ ٱلَّذِى ٱرۡتَضَىٰ لَهُمۡ وَلَيُبَدِّلَنَّهُم مِّنۢ بَعۡدِ خَوۡفِهِمۡ أَمۡنًا ۚ يَعۡبُدُونَنِى لَا يُشۡرِكُونَ بِى شَيۡـًٔا ۚ وَمَن كَفَرَ بَعۡدَ ذَٰلِكَ فَأُوْلَـٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡفَـٰسِقُونَ ﴾(١)

«الله تعالى له تاسو څخه د هغو كسانو سره ژمنه (وعده) كړې ده چي ايمان يې راوړى دى او نيك اعمال يې تر سره كړي دي چي هرو مرو به دوى ته په ځمكه كښې خلافت ور په برخه كوي لكه څنگه چي يې له دوى څخه مخكې كسانو ته خلافت ورپه نصيب كړى وو، او هرو مرو به ددوى لپاره ددوى هغه دين قدرت ته رسوي چي ورته غوره

(١) النور (٥٥).

کړی يې دی، او خامخا به ددوی له ويرې وروسته دوی ته امن او امنيت په عوض او بدله کښنې ورکوي، (خو په دې شرط چې) يوازې زما عبادت به کوي او زما سره به هيڅ شي نه شريکوي او څوك چي له دې وروسته کافر شو نو همدوی فاسقان او له اسلام څخه وتلي دي».

**او د اسلام دين:** له عقيدې او شريعت څخه عبارت دی، او د دې دواړو په لحاظ پوره او کامل دی:

۱- د الله تعالی په توحيد باندې امرکوي او له شرك څخه منع کوی.

۲- په رښتيا ويلو امر کوي او له دروغو څخه منع کوی.

۳- په عدل[۱] باندې امر کوي او له ظلم څخه منع کوي.

٤- په امانت دارئ او امانت ساتلو باندې امر کوي او له خیانت کولو څخه منع کوي.

٥- په وفا کولو امر کوي او له وعدې ماتولو څخه منع کوي.

(۱) **عدل**: د همدوله او یو بل ته ورته شیانو تر منځ مساوات او برابري کولو او د مختلفو او له یو بل څخه د توپیر لرونکو شیانو تر منځ جدایي راوستلو او توپیر کولو ته ویل کیږي، او عدل مطلق او عام مساوات ته نه ویل کیږي لکه څنګه چې ځیني خلك په مطلقه توګه وایي چې اسلام د مساوات دین دی؛ ځکه چې د مختلفو شیانو تر منځ مساوات او برابري کول ظلم دی، چې په اسلام کښې نشته او کوونکئ یې د ستایلو وړ نه دی.

٦- له مور او پلار سره په نیکۍ او احسان کولو امر کوي او دهغوی له نا فرماني او آزارولو څخه منع کوي.

٧- له خپلوانو سره پر صله رحمي ساتلو او خپلوي پاللو امر کوي اوله هغوي سره د اړیکو پرې کولو څخه منع کوي.

٨- په ښه ګاوندېتوب امر کوي او له بد ګاوندېتوب څخه منع کوي.

لنډه دا چي اسلام په هر غوره خوي باندې امر کوي او له هر ناوړه خوي څخه منع کوي او په هر نیك او ښه کارکولو امر کوي او له هر بد عمل څخه منع کوي، الله تعالی فرمایي: ﴿ إِنَّ ٱللَّهَ يَأۡمُرُ

بِٱلۡعَدۡلِ وَٱلۡإِحۡسَٰنِ وَإِيتَآيِٕ ذِي ٱلۡقُرۡبَىٰ وَيَنۡهَىٰ عَنِ ٱلۡفَحۡشَآءِ وَٱلۡمُنكَرِ وَٱلۡبَغۡيِۚ يَعِظُكُمۡ لَعَلَّكُمۡ تَذَكَّرُونَ ﴾[1] «بې شکه الله تعالى په عدل او احسان کولو او خپلوانو ته په ورکړه باندې امر کوي او له فحشا او ناوړه کار او ظلم څخه منع کوي، وعظ کوي تاسې ته ښايي چه پند واخلئ».

(۱) النحل (۹۰).

# (دوهم فصل)
# داسلام اركان

**د اسلام اركان:** د اسلام هغه پنځه بنسټونه او بنـاوې دي چـي اسـلام پـرې ولاړ دی، او پـه هغـه حديث كښي يې يادونه شوې ده چي ابن عمر v لـه پيغمبر ﷺ څخه روايت كړی دی چي فرمـايي: (بُنِيَ الْإِسْلاَمُ عَلَى خَمْسَةٍ: عَلَى أَنْ يُّوَحَّدَ اللهُ -وفي رواية- عَلَى خَمْسٍ: شَهَادَةِ أَنْ لاَّ إِلـهَ إِلاّ اللهُ وَأَنّ مُحَمَّـداً عَبْـدُهُ وَرَسُوْلُهُ، وَإِقَامِ الصَّلاَةِ، وَإِيْتَاءِ الزَّكَاةِ، وَصِيَامِ رَمَضَـانَ، وَالْحَجِّ، فَقَالَ رَجُلٌ: الحَجُّ وَصِيَامُ رَمَضَانَ؟ قَالَ: لاَ، صِيَامُ رَمَضَانَ وَالْحَجُّ، هكَذَا سَمِعْتُهُ مِنْ رَّسُوْلِ اللهِ ﷺ) متفـق

عليه واللفظ لمسلم[١] «اسلام پر پنځو شيانو ولاړ دی: د الله تعالی وحدانيت منل (يعني يوازې دهغه عبادت ته غاړه ايښودل) -او په يو روايت کښې دي- چې دا ګواهي ورکول چې نشته مستحق او حقدار دعبادت او بندګئ مګر يو الله او دا ګواهي ورکول چې محمد ﷺ د هغه بنده او پيغمبر دی، او په صحيح توګه لمونځ ادا کول، او زکات ورکول، او د رمضان روژه نيول، او حج کول، نو يو سړي عرض وکړ چې حج کول او د رمضان روژه نيول؟ (ابن عمر

(١) صحيح البخاري (كتاب الإيمان، حديث ٨،كتاب تفسير القرآن، حديث ٤٥١٥)، صحيح مسلم (كتاب الإيمان، حديث ١٥٣).

٧) وفرمایل: نه د رمضان روژه نیول او حج کول، همدا ډول مې له پيغمبر ﷺ څخه اوریدلي دي»، دا حدیث بخاري او مسلم روایت کړی دی، او دا الفاظ د مسلم دي.

**۱- دا ګواهي ورکول چې (لاإله إلا الله وأن محمداً عبده و رسوله)** «یعنې د الله پرته بل د عبادت او بندګئ مستحق او حقدار نشته او محمد ﷺ د الله بنده او پيغمبر دي» (ددې مطلب) داسې مضبوطه او کلکه عقیده ساتل دي لکه په سترګو چې یو شي ګورې چې په ژبه سره ددې کلمې په ویلو له هغې څخه تعبیر کیږي.

او دا چې دا کلمه په داسې حال کښې چې د

دوو شيانو (د الله تعالی د وحدانيت او د محمد ﷺ د رسالت) په هکله ګواهي په کښې ده يو رکن ګر ځول شوې ده ددې وجه خو يا داده چې پيغمبر ﷺ د الله تعالی پيغام رسوونکی او راوړونکی دی نو د ده په هکله ګواهي ورکول د دې ګواهي ورکولو تکميل او پوره کوونکې ده چې (لاإله إلا الله) يعني له الله پرته د عبادت او بندګۍ بل وړ او مستحق او حقدار نشته .

او يا يې وجه دا ده چې دا دواړه کلمې دعملونو دصحيح کيدو او قبليدو اساس او بنسټ دي؛ ځکه د الله تعالی لپاره اخلاص او د پيغمبر ﷺ له پيروۍ او تابعدارۍ پرته هيڅ عمل نه صحيح

کیږي او نـه قبلیږي، پـه اخـلاص سـره د (لا إلـه إلا الله) گواهي عملـي کیږي او د پیغمبـر ﷺ پـه پیـروئ او تابعــدارئ ســره د (أن محمــداً عبــده ورســوله) گواهي تر سره کیږي.

**او دشهادت دکلمې لـه لویو گټو او فایدو څخـه** (یوه هم) د مخلوقاتو لـه غلامئ او لـه پیغمبرانو څخـه پرتـه د نـورو خلکـو لـه پیـروئ او تابعـدارئ څخـه د زړه او ځان آزادول او آزاد ساتل دي.

**۲ـ او پـه صـحیح توگـه د لمانځـه اداکولـو** دا مطلـب دی چـي د وخـت او طریقــې پــه لحــاظ پــه صحیح او پوره توگه د لمانځه په ادا کولو سره د الله

تعالی عبادت او بندګي وشي.

**او د هغې لـه ګټـو او فایـدو څخـه** د سـینې پراخـوالی (د زړه خوښـي) او د سـترګو یخـوالی (خوشحالي) او له فحشا او بې حیایئ او بدو کارونو څخه لیرې ګرځیدل دي.

**٣- او د زکات ورکول** هم د الله تعالی عبادت او بندګي کول دي، په ورکولو د واجب اندازې مال سره له هغې مال څخه چي زکات په کښې کیږي.

**او د هغې لـه ګټـو او فایـدو** څخـه د بُخـل او کنجوسئ له بد خوي څخه دځان او زړه پاکول او د مسلمانانو حاجت او اړتیا پوره کول دي.

**٤- او د رمضـان روژه نیـول**: د رمضـان پـه

میاشت کښې د ورځې له مخې له روژه ماتوونکو شیانو څخه د ځان په ژغورلو سره د الله تعالی عبادت او بندګي کول دي.

**او دهغی له ګټو او فایدو** څخه د الله تعالی د رضا لاس ته راوړلو لپاره ځان د هغو شیانو له پریښودلو سره عادت کول دي چې نفس ته خوښ او محبوب وي.

**۵ـ او د بیت الله حج کول:** د حج د شعائرو د پرځاي کولو لپاره بیت الله شریف ته په تللو سره د الله تعالی عبادت او بندګي کول دي.

**او دهغی له ګټو او فایدو** څخه د الله تعالی د طاعت او بندګئ په لاره کښې ځان له مالي او بدني

قربانئ ورکولو سره عادت کول دي، اوله همدې کبله حـج د الله تعـالی پـه لار کښـې د جهـاد کولـو یـو ډول دی.

او ددې ارکانو دا فایدې او ګټې چي مونږ ذکر کړې او نورې فایدې چي نه مو دي ذکر کړې له دې امت څخه داسې یو سپیڅلی او پاك اسلامي امت جوړوي چي په حق دین سره د الله تعالی طاعت او بندګي کوي او له خلکو سره په عدل او انصاف معامله کوي، ځکه د اسلام نور احکام ددې ارکانو په صحیح کولو سره بشپړ کیږي او د امت احوال او چارې د دین په صحیح ساتلو سره سمیږي، او څومره چي دچا د دین حالت خراب وي په هغې

اندازه به یې نور کارونه خراب وي او څوك چي دا ځان ته معلومول غواړي (ددې پته لګول غواړي) نو د الله تعالی دا فرمان دې ولولي چي فرمايي: ﴿ وَلَوۡ أَنَّ أَهۡلَ ٱلۡقُرَىٰٓ ءَامَنُواْ وَٱتَّقَوۡاْ لَفَتَحۡنَا عَلَيۡهِم بَرَكَٰتٖ مِّنَ ٱلسَّمَآءِ وَٱلۡأَرۡضِ وَلَٰكِن كَذَّبُواْ فَأَخَذۡنَٰهُم بِمَا كَانُواْ يَكۡسِبُونَ أَفَأَمِنَ أَهۡلُ ٱلۡقُرَىٰٓ أَن يَأۡتِيَهُم بَأۡسُنَا بَيَٰتٗا وَهُمۡ نَآئِمُونَ أَوَأَمِنَ أَهۡلُ ٱلۡقُرَىٰٓ أَن يَأۡتِيَهُم بَأۡسُنَا ضُحٗى وَهُمۡ يَلۡعَبُونَ أَفَأَمِنُواْ مَكۡرَ ٱللَّهِۚ فَلَا يَأۡمَنُ مَكۡرَ ٱللَّهِ إِلَّا ٱلۡقَوۡمُ ٱلۡخَٰسِرُونَ ﴾(١) «كه چيرې ددې كليو (ښارونو) خلكو ايمان راوړى واى او پرهيزګاري يې كړې واى نو

---

(١) الأعراف (٩٦- ٩٩).

مونږ به د دوی پر مخ له آسمان او ځمکې څخه د برکتونو دروازې پرانستې وې، خو لیکن دوی تکذیب وکړ (او پیغمبران یې دروغ وګڼل) نو مونږ دوی د هغه کارونو په وجه ونیول چې دوی کول، آیا ددغو کلیو (ښارونو) خلك له دې څخه په امن کښې دي چې په شپه کښې کله چې دوی ویده وي زمونږ عذاب ورته راشي او یا دوی له دې څخه په امن کښې دي چې غرمه (څاښت) چې کله دوی لوبې کوي زمونږ عذاب ورته راشي، آیا دوی د الله له تدبیر (او نابېره نیولو او عذاب) څخه بې غمه او په امن کښې دي؟ د الله تعالی له تدبیر (او نابېره

نيولو او عذاب) څخه له زيان کارانو او تاوانيانو پرته بل څوك بې غمه او بې فکره نه وي».

او بايد تير تاريخ ته نظر وکړي ځکه په تاريخ کښې د عقل د خاوندانو او هوښيارانو لپاره د عبرت خبرې او د هغه چا لپاره چي زړه يې په پرده کښې پټ نه وي بصيرت او رڼا ده، والله المستعان.

# (دریم فصل)

# د (ایمان او) اسلامي عقیدې ارکان او بنسټونه

**د اسلام دین** : لکه څنګه چې مخکې اشاره ورته وشوه عبارت دی له عقیدې او شریعت څخه، او ځینې شرعي احکامو ته مو یې (په تیر فصل کښې) اشاره وکړه، او هغه ارکان مو یې (په لنډه توګه) ذکر کړل چې د شرعي احکامو اساس او بنسټ بلل کیږي.

**او د اسلامي عقیدې بنسټونه او ارکان** په الله او د هغه په پرښتو او کتابونو او پیغمبرانو او د

آخـرت پـه ورځ او د خیـر او شـر پـه تقـدیر بانـدې ایمان لرل دي.

**او د دې بنسټونو او ارکانو دلیل قرآن او حدیث دي:**

**په قرآن کریم کښې** الله تعالی فرمایي: ﴿ لَّيۡسَ ٱلۡبِرَّ أَن تُوَلُّواْ وُجُوهَكُمۡ قِبَلَ ٱلۡمَشۡرِقِ وَٱلۡمَغۡرِبِ وَلَٰكِنَّ ٱلۡبِرَّ مَنۡ ءَامَنَ بِٱللَّهِ وَٱلۡيَوۡمِ ٱلۡأٓخِرِ وَٱلۡمَلَٰٓئِكَةِ وَٱلۡكِتَٰبِ وَٱلنَّبِيِّـۧنَ ﴾[۱] «نیکي (یوازې) دا نه ده چې مخونه د مشرق (ختیځ) او مغرب (لویدیځ) لوري ته واړوئ، بلکه (غوره) نیکي خو د هغه چا ده چې

(۱) البقرة (۱۷۷).

په الله او د آخرت په ورځ او پرښتو او کتابونو او پیغمبرانو باندې یې ایمان راوړي وي».

او د تقدیر په باره کښې فرمایي: ﴿ إِنَّا كُلَّ شَيۡءٍ خَلَقۡنَٰهُ بِقَدَرٖ وَمَآ أَمۡرُنَآ إِلَّا وَٰحِدَةٞ كَلَمۡحِۭ بِٱلۡبَصَرِ ﴾(۱) «بې شکه مونږ هر شي په اندازه پیدا کړي دي، او زمونږ امر نه دی مگر یوه کلمه لکه د سترگو رپ».

**او په حدیث کښې** پیغمبر ﷺ د ایمان په هکله د جبریل δ د پو ښتنې په ځواب کښې وایي: (الإِيْمَانُ أَنْ تُؤْمِنَ بِاللهِ وَمَلاَئِكَتِهِ وَكُتُبِهِ وَرُسُلِهِ وَالْيَوْمِ

(۱) القمر (٤۹- ٥۰).

الْآخِرِ، وَتُؤْمِنَ بِالْقَدرِ خَيْرِهِ وَشَرِّهِ)[۱] «ايمان دې ته ويل كيږي: چي په الله تعالى د ده په پرښتو او كتابونو او پيغمبرانو او د قيامت په ورځ ايمان راوړې، او همدا راز د خير او شر په تقدير باندې ايمان راوړې».

(۱) صحيح مسلم ( كتاب الإيمان، حديث ۸).

# (څلورم فصل)

# (لمړی رکن) په الله تعالی باندې ايمان

**په الله تعالی باندې ايمان څلورو شيانو ته شامل دی:**

**لمړی: د الله تعالی په موجوديت باندې ايمان:**

د الله تعالی په موجوديت باندې فطرت عقل او شريعت او محسوسات ټول دلالت کوي.

**۱- د الله تعالی په موجوديت باندې د فطرت دليل** دادی چې هر مخلوق په فطرتي توګه په خپل خالق او پيداکوونکي باندې ددې پرته ايمان لري چې مخکې يې فکر او سوچ کړی وي او يا ښوونه او

تعلیم ورته شوی وي.

او ددې فطرت له تقاضا څخه یوازې هغه څوك مخ اړوي چي په زړه یې په (عارضي توګه) داسې څه راغلي وي چي له دې فطرت څخه یې واړوي ځکه پیغمبر ﷺ فرمایي: (مَا مِنْ مَوْلُوْدٍ إِلاَّ يُوْلَدُ عَلَى الْفِطْرَةِ فَأَبَوَاهُ يُهَوِّدَانِهِ أَوْ يُنَصِّرَانِهِ أَوْ يُمَجِّسَانِهِ)[1]، «هر نوی ماشوم د (صفا او سلیم) فطرت مطابق پیدا کیږي او بیا یې مور او پلار یهودي یا نصراني او یا مجوسي کړي».

---

(۱) صحیح البخاري (کتاب الجنائز، حدیث ۱۳۵۹،۱۳۵۸، کتاب تفسیر القرآن، حدیث ٤۷۷٥)، صحیح مسلم (کتاب القدر، حدیث۲٦٥۸).

**۲- او د الله تعالی په موجودیت باندې د عقل دلیل** دا دی چي دا ټول مخکیني او وروستني مخلوقات باید ضرور یو خالق (پیداکونکی) ولري چي پیدا کړي يې دي، ځکه دا خو ممکنه نه ده چي دوی خپل ځان پخپله پیدا کړی وي، او دا هم ممکنه نه ده چي په تصادفي توګه پخپله پیدا شي وي.

دا ممکنه نه ده چي دوی خپل ځان پخپله پیدا کړي؛ ځکه یو شي خپل ځان پخپله نه شي پیدا کولای، ځکه چي له پیدا کیدو څخه مخکې خو دسره موجود نه وي نو څنګه کیدای شي چي خالق او پیدا کوونکئ واقع شي؟!

او دا هم ممکنه نه ده چي په تصادفي توګه

پخپله پیدا شي؛ ځکه د هر پیدا شوي شي لپاره یو پیداکوونکئ ضرور دی، او ځکه چي د مخلوقاتو د وجود او پیدایښت دا ښکلی نظام او له یو بل سره جوړښت او ترتیب، او د اسبابو او د هغې د نتائجو (مُسَبَّباتو) تر منځ او همدا راز دکائناتو له یو بل سره ټینګې اړیکې دا په کلکه ردوي چي دا مخلوقات په تصادفي توګه پیدا شوي وي، ځکه په تصادفي توګه پیدا شوی شي خو په اصل موجودیت او پیدا کیدو کښې مُنَظَّم (په یو نظام سره) نه وي نو څنګه به د بقا (پاتې کیدو) او پرمختګ او ترقی په حال کښې منظم وي؟!

نو هرکله چي دا په ډاګه شوه چي دا مخلوقات

خپل ځان پخپله نه شي پیدا کولای او نه په تصادفي توګه پیدا کیداي شي نو معلومه شوه چي یو پیدا کوونکئ او خالق لري، چي هغه الله - د ټول عالم پالونکئ او پروردګار - دی.

او الله تعالی دا عقلي او قاطع دلـیل د طور په سـورت کښي داسـې ذکـر کړی دی: ﴿ أَمْ خُلِقُواْ مِنْ غَيْرِ شَيْءٍ أَمْ هُمُ ٱلْخَٰلِقُونَ ﴾[1] «آیا دوی بې له کوم څیز (خالق اوپیدا کوونکي) پیدا شوي دي که دوی پخپله (دخپلو ځانونو) پیدا کوونکي دي؟» ، یعني دوی بې خالق او پیدا کوونکي نه دي پیدا شوي

(١) الطور (٣٥).

او نه دوی خپل ځانونه پخپله پیداکړي دي، نو په ډاگه شوه چي د دوی پیداکوونکئ الله تبارك وتعالی دی، او همدا وجه ده چي کله جبير بن مطعم ﵁ له پیغمبر ﷺ څخه د طور سورت واورید او دې آیتونو ته راورسـيـد: ﴿ أَمۡ خُلِقُواْ مِنۡ غَيۡرِ شَيۡءٍ أَمۡ هُمُ ٱلۡخَٰلِقُونَ أَمۡ خَلَقُواْ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَۚ بَل لَّا يُوقِنُونَ أَمۡ عِندَهُمۡ خَزَآئِنُ رَبِّكَ أَمۡ هُمُ ٱلۡمُصَۜيۡطِرُونَ ﴾[1] «آیا دوی بې له کوم شي پیدا شوي دي که دوی پخپله پیداکوونکي دي او که دوی آسمانونه او ځمکه پیداکړي دي؟ بلکه دوی یقین نه کوي او که له دوی سره ستا د

(١) الطور (٣٥- ٣٧).

پروردگار زيرمې او خزانې دي او که دوی واکداران او قبضه کوونکي دي؟» او جبير بن مطعم چه دا وخت مشرك وو وايي: (كَادَ قَلْبِيْ أَنْ يَّطِيْرَ، وَذلِكَ أَوَلَ مَا وَقَرَ الْإِيْمَانُ فِيْ قَلْبِيْ)(١) «نږدې وه چې زړه مې والوزي، او دا هغه وخت چې لمړی ځل مې ايمان په زړه کښې ځای ونيو».

او ددې خبرې د وضاحت لپاره يو مثال ذکر کوو (هغه داچې) که يو څوك تاته ووايی: چې يوه محکمه او مضبوطه مانۍ ده چې باغونه ترې چاپير

---

(١) صحيح البخاري (كتاب المغازي، حديث ٤٠٢٣، كتاب التفسير، حديث ٤٨٥٤).

دي او په منځ کښې يې ويالې او نهرونه بهيږي او په فرشونو او کټونو ډکه ده او د ښکلا په هر څه پوره ده، او درته ووايي چي دې مانۍ او په دې کښې چي د کمال څه دي خپل ځان پخپله پيدا کړی دی او يا له پيدا کوونکي پرته پخپله په تصادفي توګه پيدا شوې ده، نو ته به فوراً ددې له منلو څخه انکار وکړې او دروغ به يې وګڼې او يوه احمقانه او بيهوده خبر به يې وبولې، نو آيا کيدای شي چي دا ارت او پراخه کائنات او موجوادات له ځمکې او آسمان او سيارو او ستورو او ټولو احوالو سره چي دومره ښکلی او حيرانوونکۍ نظام لري يا په تصادفي توګه پخپله پيدا شوی وي او يايې خپل ځان

پخپله پیداکړی وي؟!

**٣- او د الله تعالی په وجود باندې شرعي دلیل**

دا دی چي ټول آسماني کتابونه همدا وایي او په دې کتابونو کښې چي د خلکو په ګټه او مصلحت کوم احکام راغلي دي ټول په دې باندې دلالت کوي چي دا احکام د باحکمته او د خپل مخلوق په ګټه او مصلحت علم لرونکي پروردګار له لوري دي، او په دې کتابونو کښې چي د کائناتو په هکله څه راغلي دي او په واقع کښې رښتیا شوي دي ټول ددې خبرې دلیل دي چي دا هر څه د هغه پروردګار له لوري دي چي څه یې ویلي دي دهغې د پیداکولو قدرت او توان لري.

**٤- او محسوسات د الله تعالی په موجودیت باندې له دوو جهتو (اړخونو) دلالت کوي:**

**لمړی:** دا چې مونږ اورو او ګورو چې د دعا کوونکو دعا قبلیږي او د مشکل ځپونکو مشکل حل کیږي، او دا د الله تعالی په وجود باندې په قاطعه توګه دلالت کوي.

الله تعالی فرمایي: ﴿ وَنُوحًا إِذۡ نَادَىٰ مِن قَبۡلُ فَٱسۡتَجَبۡنَا لَهُۥ ﴾(١) «او نوح ﷺ (یاد کړه) چې مونږ ته یې پخوا آواز وکړ نو مونږ یې دعا قبوله کړه».

او فرمایي: ﴿ إِذۡ تَسۡتَغِيثُونَ رَبَّكُمۡ فَٱسۡتَجَابَ لَكُمۡ

---

(١) الأنبياء (٧٦).

﴾[1] «او هغه وخت (رایاد کړئ) چې تاسې له خپل پروردګار څخه مرسته وغوښته نو ستاسې دعا يې قبوله کړه».

او په صحيح البخاري کښې له حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دی فرمايي: (إِنَّ أَعْرَابِيًّا دَخَلَ يَوْمَ الْجُمْعَةِ وَالنَّبِيُّ ﷺ يَخْطُبُ، فَقَالَ: يَا رَسُوْلَ اللهِ هَلَكَ الْمَالُ وَجَاعَ الْعِيَالُ فَادْعُ اللهَ لَنَا، فَرَفَعَ يَدَيْهِ وَدَعَا، فَثَارَ السَّحَابُ أَمْثَالَ الْجِبَالِ، فَلَمْ يَنْزِلْ عَنْ مِّنْبَرِهِ حَتَّى رَأَيْتُ الْمَطَرَ يَتَحَادَرُ عَلَى لِحْيَتِهِ، وَفِي الْجُمْعَةِ الثَّانِيَةِ قَامَ الْأَعْرَابِيُّ أَوْ غَيْرُهُ فَقَالَ: يَا رَسُوْلَ اللهِ تَهَدَّمَ الْبِنَاءُ وَغَرِقَ الْمَالُ فَادْعُ

(١) الأنفال (٩).

اللهَ لَنَا، فَرَفَعَ يَدَيْهِ وَقَالَ: اَللّهُمَّ حَوَالَيْنَا وَلاَ عَلَيْنَا، فَمَا يُشِيْرُ إَلِى نَاحِيَةٍ إِلاَّ انْفَرَجَتْ)[1] «يو اعرابي[2] د جمعي په ورځ په داسي حال كښي (مسجد ته) را داخل شو چي پيغمبر ﷺ خطبه ويله، نو عرض يې وكړ چي اى د الله رسوله مالونه هلاك شول او اولادونه او بال بچ وږي شول نو له الله څخه زمونږ لپاره (دباران) دعا وغواړه، پيغمبرﷺ خپل لاسونه پورته كړل او دعا يې وكړه، نو وريځ د غرونو په

(١) صحيح البخاري (كتاب الجمعة، حديث ٩٣٣، ١٠٣٣)، صحيح مسلم (كتاب صلاة الاستسقاء، حديث ٨٩٧).
(٢) (أعرابي) نسبت دى (أعراب) ته، او اعراب هغو عربو ته ويل كيږي چي په پخوا زمانه كښي يې په جزيرة العرب كښي له ښارونو څخه بهر كوچيانى ژوند درلود ( ژباړن ).

شان را وخوځیده او پیغمبر ﷺ لا له منبر څخه راښکته شوی نه وو چې ما باران ولید چې په ږیره (مبارکه) یې ښکته را روان وو، او په بله جمعه کښې بیا هماغه اعرابي یا بل څوك پاځید او عرض یې وکړ چه ای د الله رسوله ودانې ورانه شوه او مالونه ډوب شول له الله څخه مونږ ته دعا وغواړه، نو پیغمبر ﷺ لاسونه پورته کړل او ویې ویل: ای زمونږ الله پرمونږ باندې نه زمونږ پر شاوخوا باندې باران واوروه، نو هر لوري ته چې به یې اشاره وکړه هغه به (له وریځې څخه) را څرګند شو» (یعني وریځ به ور څخه خوره وره شوه).

او د دعا قبلیدل تر نن ورځ پورې دوام لري

او (آثار يې) ليدل كيږي، خو چي څوك الله تعالى ته په صدق او رښتيا سره پناه يوسي او د دعا د قبليدو شرطونه پوره كړي.

**دوهم جهت (اړخ):** د پيغمبرانو معجزې، چي خلك يې گوري يا اوري د دوى د رااستوونكي ذات الله تعالى د موجوديت قاطع دليل دي، ځكه چي دا معجزې د انسان له توان څخه بهر دي، الله تعالى يې دخپلو پيغمبرانو د تاييد او مرستې لپاره څرگندوي.

**د مثال په توگه** موسى عليه السلام ته چي كله (الله تعالى) امر وكړ چي پخپله همسا سره سمندر ووهه له سمندر څخه په وهلو سره دوولس وچې لارې جوړې شوې او او به د لارو تر منځ د غرونو په

ځير ودريدې، لکه چي الله تعالى فرمايي: ﴿ فَأَوْحَيْنَآ إِلَىٰ مُوسَىٰٓ أَنِ ٱضْرِب بِّعَصَاكَ ٱلْبَحْرَ ۖ فَٱنفَلَقَ فَكَانَ كُلُّ فِرْقٍ كَٱلطَّوْدِ ٱلْعَظِيمِ ﴾(١) «نو مونږ موسى عليه السلام ته امر وکړ چي پخپله همسا سره سمندر ووهه، نو سمندر ځيرې شو او هره برخه يې د يوه لوى غره غوندې شوه».

**دوهم مثال**: د عيسى عليه السلام معجزه ده چي ده به مړي راژوندي کول او د الله تعالى په اجازې او حکم سره به يې له قبرونو څخه را ايستل، الله تعالى له ده څخه نقل کوي چي ده به ويل : ﴿ وَأُحْيِ ٱلْمَوْتَىٰ بِإِذْنِ ٱللَّهِ

(١) الشعراء (٦٣).

﴾[١] «او زه د الله په حكم سره مړي راژوندي كوم»، او الله تعالى (ده ته خطاب كوي او) فرمايي: ﴿ وَإِذۡ تُخۡرِجُ ٱلۡمَوۡتَىٰ بِإِذۡنِى ﴾[٢] «او هغه وخت (يادكړه) چي تا به زما په حكم سره مړي راژوندي كول».

**دريم مثال:** له محمد ﷺ څخه چي كله قريشو معجزه وغوښته نو ده سپوږمۍ ته اشاره وكړه، نو سپوږمۍ دوه ټوټې شوه او خلكو وليده، او په دې هكله الله تعالى فرمايي: ﴿ ٱقۡتَرَبَتِ ٱلسَّاعَةُ وَٱنشَقَّ ٱلۡقَمَرُ وَإِن يَرَوۡاْ ءَايَةٗ يُعۡرِضُواْ وَيَقُولُواْ سِحۡرٞ مُّسۡتَمِرّٞ ﴾[٣] «قيامت

(١) آل عمران (٤٩).
(٢) آل عمران (١١٠).
(٣) القمر (١- ٢).

رانږدې شو او سپوږمۍ څیرې (دوه ټوټې) شوه، او دوی چې کله یوه معجزه ويني نو مخ وګرځوي او وايي دا خو دوامدار جادو دی».

نو دا محسوسې معجزې چې الله تعالی یې د خپلو پیغمبرانو د تایید او مرستې لپاره څرګندوي د الله تعالی په وجود او موجودیت باندې په قاطعه توګه دلالت کوي.

**دوهم: د الله تعالی پر ربوبیت باندې ایمان:**

یعني په دې باندې ایمان لرل چې رب او پالونکۍ یوازې الله تعالی دی او کوم شریك او مرستیال نه لري.

**او رب:** هغه چا ته وايي چې پیدا کول

پادشاهي او فيصلې (پريکړې) تر هغه پورې خاص وي، نو له الله پرته بل خالق او پيدا کوونکئ نشته او د هغه پرته بل مالك نشته او پريکړه او فيصله به يوازې د هغه چلېږي.

الله تعالى فرمايي: ﴿ أَلَا لَهُ ٱلْخَلْقُ وَٱلْأَمْرُ ﴾[١] «خبردار پيداکول او پريکړه او فيصله کول يوازې هغه لره دي».

او فرمايي: ﴿ ذَٰلِكُمُ ٱللَّهُ رَبُّكُمْ لَهُ ٱلْمُلْكُ ۚ وَٱلَّذِينَ تَدْعُونَ مِن دُونِهِۦ مَا يَمْلِكُونَ مِن قِطْمِيرٍ ﴾[٢] «دا الله ستاسو پروردگار دی، پادشاهي يوازې ده لره ده، او

(١) الأعراف (٥٤).
(٢) فاطر (١٣).

هغه (معبودات) چي تاسو يې له ده پرته رابولئ دخرما (کجورې) د زړي د پاسه د نرۍ پردې مالکان هم نه دي» (یعني د هغې په اندازه واك او اختيار هم نه لري).

او په مخلوقاتو کښې د الله تعالی له ربوبيت نه هيچا هم انکار نه دی کړی، مګر دا چي کوم يو له حق نه سترګې پټوونکئ وي (او انکار وکړي) خو بيا هم په خپله وينا عقيده او باور نه لري (یعني پوهيږي چي په غلطه دی) لکه فرعون چي خپل قوم ته وويل : ﴿ أَنَا۠ رَبُّكُمُ ٱلۡأَعۡلَىٰ ﴾[1] «زه ستاسو

(١) النازعات (٢٤).

اوچت پروردگار يم»، او ويې ويل: ﴿ يَـٰٓأَيُّهَا ٱلۡمَلَأُ مَا عَلِمۡتُ لَكُم مِّنۡ إِلَـٰهٍ غَيۡرِى ﴾(١) «اى مشرانو زه ستاسو لپاره له خپل ځان پرته دعبادت او بندګۍ بل مستحق او حقدار نه پيژنم»، ليکن په دې يې عقيده او باور نه درلود، لکه چي الله تعالى فرمايي: ﴿ وَجَحَدُواْ بِهَا وَٱسۡتَيۡقَنَتۡهَآ أَنفُسُهُمۡ ظُلۡمًا وَعُلُوًّا ﴾(٢) «او دوى له معجزو څخه د ظلم او تکبر په توګه انکار وکړ په داسى حال کښې چي زړونو يې يقين پرې درلود»، او موسى ﷺ - لکه څنګه چي الله تعالى ورنه حکايت کوي– فرعون ته وفرمايل: ﴿

(١) القصص (٣٨).
(٢) النمل (١٤).

قَالَ لَقَدۡ عَلِمۡتَ مَآ أَنزَلَ هَٰٓؤُلَآءِ إِلَّا رَبُّ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ بَصَآئِرَ وَإِنِّي لَأَظُنُّكَ يَٰفِرۡعَوۡنُ مَثۡبُورٗا ﴾[1] «بې شكه ته ښه پوهيږې چي دا معجزې چي څرګنده دلايل دي د آسمانونو او ځمكي د پروردګار پرته بل چانه دي رانازلي كړې، او زه په تا باندې د هلاك شوي ګمان كوم».

او همدا وجه وه چي مشركانو د الله تعالى په ربوبيت باندې اقرار درلود خو له دې سره يې په ألوهيت كښي شريكان ورسره پيداكول، الله تعالى فرمايي: ﴿ قُل لِّمَنِ ٱلۡأَرۡضُ وَمَن فِيهَآ إِن كُنتُمۡ

(١) الإسراء (١٠٢).

تَعۡلَمُونَ سَيَقُولُونَ لِلَّهِۚ قُلۡ أَفَلَا تَذَكَّرُونَ قُلۡ مَن رَّبُّ ٱلسَّمَٰوَٰتِ ٱلسَّبۡعِ وَرَبُّ ٱلۡعَرۡشِ ٱلۡعَظِيمِ سَيَقُولُونَ لِلَّهِۚ قُلۡ أَفَلَا تَتَّقُونَ قُلۡ مَنۢ بِيَدِهِۦ مَلَكُوتُ كُلِّ شَيۡءٖ وَهُوَ يُجِيرُ وَلَا يُجَارُ عَلَيۡهِ إِن كُنتُمۡ تَعۡلَمُونَ سَيَقُولُونَ لِلَّهِۚ قُلۡ فَأَنَّىٰ تُسۡحَرُونَ ﴾[١] «ووايه (اى پيغمبره) ځمكه او په هغې كښې چي څه دي چا لره دي كه چيرې پوهيږئ؟ نو ژر ده چي دوى به ووايي چه الله لره دي، نو ورته ووايه آيا پند نه اخلئ؟ ورته ووايه چي د اوو آسمانونو او دلوى عرش څښتن څوك دى؟ ژر ده چي وبه وايي: دا هر څه الله تعالى لره دي، ورته

(١) المؤمنون (٨٤- ٨٥).

ووايه آيا نه ويريږئ؟ ورته ووايه د هرڅه پادشاهي د چا په لاس کښې ده؟ او هغه پناه ورکوي او دده په خلاف پناه نه ورکول کيږي که چيرې تاسې پوهيږئ ، ژر ده چې دوی به ووايي دا هر څه الله تعالی لره دي، (ورته) ووايه نو کوم لوري ته جادو درباندې کيږي؟ (او تیر ایستل کیږئ او له حق څخه اړول کیږئ)».

او فرمايي: ﴿ وَلَئِن سَأَلْتَهُم مَّنْ خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ لَيَقُولُنَّ خَلَقَهُنَّ ٱلْعَزِيزُ ٱلْعَلِيمُ ﴾[1] «که چيرې ته له دوی څخه تپوس وکړې چې اسمانونه او ځمکه

(١) الزخرف (٩).

چا پیدا کړي دي؟ نو دوی به خامخا ووايي چي د عزت او ډېر علم خاوند ذات (الله) پیدا کړي دي».

او فرمایي: ﴿ وَلَئِن سَأَلْتَهُم مَّنْ خَلَقَهُمْ لَيَقُولُنَّ ٱللَّهُ ۖ فَأَنَّىٰ يُؤْفَكُونَ ﴾(١) «که چیرې ته له دوی څخه تپوس وکړې چي دوی چا پیدا کړي دي؟ نو دوي به خامخا ووايي چي الله، نو دوي کوم لوري ته ګرځول کیږي؟».

او د الله تعالی امر کوني اوشرعي دواړو امرونو ته شامل دی، الله تعالی لکه څنګه چي د کائناتو تدبیر کوونکئ دی او په هغې کښې څنګه

(١) الزخرف (٨٧).

چي وغواړي د خپل حکمت مطابق فیصله کوي، نو همدا راز په هغې کښې د خپل حکمت سره سم عبادات او د معاملاتو احکام وضع کوي، نو څوك چي له الله تعالى سره په عباداتو کښې بل څوك شريعت وضع کوونکئ وګڼي او یا په معاملاتو کښې بل څوك حکم او فيصله کوونکئ ومني نو ده له الله تعالى سره شريك پيدا کړ او ايمان يې تر سره نه کړ.

**دريم: د الله تعالى په اُلوهيت باندې ايمان:**

يعني چي يوازې الله تعالى په حقه معبود او د عبادت مستحق او حقدار دى شريك نه لري.

او (اِله) د (مألوه) په معنى دى يعني هغه ذات

چه د محبت او تعظیم په توګه یې عبادت کیږي.

او الله تعالی فرمايي: ﴿ وَإِلَٰهُكُمْ إِلَٰهٌ وَاحِدٌ لَّآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ٱلرَّحْمَٰنُ ٱلرَّحِيمُ ﴾(1) «او ستاسو دبندګئ او عبادت حقدار یو دی د هغه پرته بل د عبادت او بندګئ مستحق او حقدار نشته، زیات مهربان او رحم کوونکئ ذات دی».

او فرمايي: ﴿ شَهِدَ ٱللَّهُ أَنَّهُۥ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ وَٱلْمَلَٰٓئِكَةُ وَأُو۟لُوا۟ ٱلْعِلْمِ قَآئِمًۢا بِٱلْقِسْطِ ۚ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ٱلْعَزِيزُ ٱلْحَكِيمُ ﴾(2) «الله تعالی ګواهي ورکړې ده چي دده پرته د عبادت او بندګئ بل مستحق او حقدار نشته او پرښتو او

---

(١) البقرة (١٦٣).
(٢) آل عمران (١٨).

علماوو هم دا ګواهي ورکړې ده، په داسې حال کښې چې په عدل ولاړ دی، د هغه پرته د عبادت او بندګۍ بل مستحق او حقدار نشته، غالب او د حکمت خاوند دی».

او هر هغه شي چې له الله تعالی سره په ألوهیت ونیول شي او د هغه پرته یې عبادت او بندګي وشي نو اباطل به وي، الله تعالی فرمایي: ﴿ ذَٰلِكَ بِأَنَّ ٱللَّهَ هُوَ ٱلۡحَقُّ وَأَنَّ مَا يَدۡعُونَ مِن دُونِهِۦ هُوَ ٱلۡبَٰطِلُ وَأَنَّ ٱللَّهَ هُوَ ٱلۡعَلِيُّ ٱلۡكَبِيرُ ﴾[1] «دا په دې وجه چې یوازې الله تعالی حق دی، او دده پرته

(١) الحج (٦٢).

چي څه رابولۍ هغه باطل دي او یوازې الله تعالی اوچت او لوی ذات دي».

او هغوی ته آلهه یعني معبودات ویل دوی ته د اُلوهیت یعني معبودیت حق نه ورکوي، الله تعالی د لات او عزی او منات (چي د جاهلیت د زمانې بُتان وو) په هکله فرمایي: ﴿ إِنۡ هِيَ إِلَّآ أَسۡمَآءٞ سَمَّيۡتُمُوهَآ أَنتُمۡ وَءَابَآؤُكُم مَّآ أَنزَلَ ٱللَّهُ بِهَا مِن سُلۡطَٰنٍ ﴾(١) «نه دي دا مګر نومونه چي تاسو او ستاسو پلارونو ایښي دي، او الله تعالی پرې کوم دلیل نه دی را نازل کړی».

(١) النجم (٢٣).

او د یوسف ﷺ په هکله فرمایي، چي د بندي خانې (جیل) دوو ملګرو ته یې وویل: ﴿ ءَأَرۡبَابٞ مُّتَفَرِّقُونَ خَيۡرٌ أَمِ ٱللَّهُ ٱلۡوَٰحِدُ ٱلۡقَهَّارُ مَا تَعۡبُدُونَ مِن دُونِهِۦٓ إِلَّآ أَسۡمَآءٗ سَمَّيۡتُمُوهَآ أَنتُمۡ وَءَابَآؤُكُم مَّآ أَنزَلَ ٱللَّهُ بِهَا مِن سُلۡطَٰنٍ﴾[1] «آیا متفرق (تار په تار) څښتنان غوره دي او که یو غالب او زورو الله؟ د هغه پرته تاسې عبادت نه کوئ مګر د داسې نومونو چي تاسو او ستاسو پلارونو ایښي دي، الله تعالی پرې کوم دلیل نه دی رانازل کړی».

(١) یوسف (٣٩- ٤٠).

او همدا وجه ده چي پيغمبرانو (عليهم الصلاة والسلام) به خپلو قومونو ته ويل: ﴿ ٱعۡبُدُواْ ٱللَّهَ مَا لَكُم مِّنۡ إِلَٰهٍ غَيۡرُهُۥٓ ﴾[1] «(يوازې) د الله تعالى عبادت وکړئ تاسې د هغه پرته بل دعبادت او بندګئ مستحق او حقدار نه لرئ»، خو ليکن مشرکانوله دې څخه انکار وکړ او د الله پرته يې نور معبودان ونيول، د الله تعالى سره به يې د هغوى عبادت هم کاوه او له هغوى څخه به يې د مرستې او کمك غوښتنه کوله.

**او الله تعالى د مشرکانو دا معبودان نيول په**

---

(١) الأعراف (٥٩).

**دوو عقلی دلیلونو سره باطل کړي دي:**

**لمړی:** دا چي په دې معبودانو کښې چي دوی نیولي دي د اُلوهیت لـه خاصیتونو څخه هیڅ شـي نشته، بلکه دوی مخلوق یعني پیدا کړل شوي دي او پیدا کول نه شي کولای او نـه خپلو عبادت کوونکو تـه (چې د دوی عبادت کوي) کومه فایده رسولای شي او نـه لـه دوی څخـه د کوم ضـرر مخـه نیولای شي، او نه د دوی لپاره د ژوند او مرگ واك لري، او نه دوی په آسمانونو کښې د هیڅ شـي مالکـان دي او نه په هغې کښې څه برخه لري.

الله تعالی فرمایي: ﴿ وَٱتَّخَذُواْ مِن دُونِهِۦٓ ءَالِهَةً لَّا يَخۡلُقُونَ شَيۡـٔٗا وَهُمۡ يُخۡلَقُونَ وَلَا يَمۡلِكُونَ لِأَنفُسِهِمۡ

ضَرًّا وَلَا نَفْعًا وَلَا يَمْلِكُونَ مَوْتًا وَلَا حَيَوٰةً وَلَا نُشُورًا ﴾[١]

«دوی لـه الله پرتـه نـور معبـودان نيـولي دي چـي هيڅ شی نه شي پيدا کولای او دوی پخپلـه مخلـوق دي، او دخپلو ځانونو لپـاره د ضـرر او فايـدې واك او اختيـار نه لري، او نـه د مرگ او ژونـد او بيـا راپورتـه کولـو مالکان دي».

او فرمايي: ﴿ قُلِ ٱدْعُواْ ٱلَّذِينَ زَعَمْتُم مِّن دُونِ ٱللَّهِ ۖ لَا يَمْلِكُونَ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ فِى ٱلسَّمَـٰوَٰتِ وَلَا فِى ٱلْأَرْضِ وَمَا لَهُمْ فِيهِمَا مِن شِرْكٍ وَمَا لَهُۥ مِنْهُم مِّن ظَهِيرٍ وَلَا تَنفَعُ ٱلشَّفَـٰعَةُ عِندَهُۥٓ إِلَّا لِمَنْ أَذِنَ لَهُۥ ﴾[٢] «ووايه

---

(١) الفرقان (٣).
(٢) السبأ (٢٢- ٢٣).

(ای پیغمبره) راوبلئ هغه کسان چي تاسې له الله پرته معبودان ګڼئ، دوی نه په آسمانونو او نه په ځمکه کښې د یوې ذرې واك لري، او نه په دې دواړو کښې کومه برخه لري، او نه هم په دوی کښې د الله کوم مرستیال او مددګار شته، او دده په و ړاندې سفارش کول فایده نه رسوي مګر هغه چاته چي ده اجازه کړې وي دهغه لپاره».

او فرمایي: ﴿ أَيُشْرِكُونَ مَا لَا يَخْلُقُ شَيْئًا وَهُمْ يُخْلَقُونَ وَلَا يَسْتَطِيعُونَ لَهُمْ نَصْرًا وَلَا أَنفُسَهُمْ يَنصُرُونَ ﴾[1] «آیا دوی داسې شریکان نیسي چي مخلوق دي او هیڅ

(١) الأعراف (١٩١- ١٩٢).

شی نه شي پیدا کولای، او نه د دوی مرسته کولای شي او نه د خپلو ځانونو».

او کله چي د دې (باطلو) معبودانو دا حال دی نو دهغوی عبادت کول ډیره بې عقلي او ډېر باطل کار دی.

**دوهم** (عقلی دلیل): دادی چي دې مشرکانو په دې اقرار درلود چي یوازې الله تعالی پروردگار پیدا کوونکئ او هغه ذات دی چي د هر څه پادشاهي د ده په لاس کښې ده، او هغه پناه ورکوي او د ده پر خلاف پناه نه ورکول کیږي، او ددې تقاضا داده چي څنګه چي یې په ربوبیت کښې یو ګڼي (او توحید یې مني) باید په ألوهیت کښې یې هم یو والی

ومني، لکه څنګه چي الله تعالی فرمايي: ﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ ٱعۡبُدُواْ رَبَّكُمُ ٱلَّذِي خَلَقَكُمۡ وَٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِكُمۡ لَعَلَّكُمۡ تَتَّقُونَ ٱلَّذِي جَعَلَ لَكُمُ ٱلۡأَرۡضَ فِرَٰشٗا وَٱلسَّمَآءَ بِنَآءٗ وَأَنزَلَ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءٗ فَأَخۡرَجَ بِهِۦ مِنَ ٱلثَّمَرَٰتِ رِزۡقٗا لَّكُمۡۖ فَلَا تَجۡعَلُواْ لِلَّهِ أَندَادٗا وَأَنتُمۡ تَعۡلَمُونَ ﴾[1] «ای خلکو د خپل هغه پروردګار عبادت وکړئ چي تاسې يې پيدا کړي ياست او هغه کسان چي ستاسې نه مخکې وو، ددې لپاره چي تاسې متقيان او پرهيزګاران شئ، هغه پروردګار چي ځمکه يې ستاسې لپاره فرش او آسمان يې چت (بام) ګرځولی دی، او له آسمان څخه

(۱) البقرة (۲۱- ۲۲).

یې اوبه راښکته کړې دي، اوپه هغې سره یې له میوو څخه ستاسې لپاره روزي راایستلې ده، نو له الله سره شریکان مه جوړوئ، په داسې حال کښې چې تاسې پوهیږئ».

او فرمایي: ﴿ وَلَئِن سَأَلْتَهُم مَّنْ خَلَقَهُمْ لَيَقُولُنَّ ٱللَّهُ فَأَنَّىٰ يُؤْفَكُونَ ﴾[1] «که چیرې ته پوښتنه ور څخه وکړې چې چا پیدا کړي دي، نو هرو مرو به ووایي چې الله، نو کوم لوري ته گرځول کیږئ؟».

او فرمایي: ﴿ قُلْ مَن يَرْزُقُكُم مِّنَ ٱلسَّمَآءِ وَٱلْأَرْضِ أَمَّن يَمْلِكُ ٱلسَّمْعَ وَٱلْأَبْصَٰرَ وَمَن يُخْرِجُ ٱلْحَىَّ مِنَ ٱلْمَيِّتِ

(١) الزخرف (٨٧).

وَيُخْرِجُ ٱلْمَيِّتَ مِنَ ٱلْحَيِّ وَمَن يُدَبِّرُ ٱلْأَمْرَ ۚ فَسَيَقُولُونَ ٱللَّهُ ۚ فَقُلْ أَفَلَا تَتَّقُونَ فَذَٰلِكُمُ ٱللَّهُ رَبُّكُمُ ٱلْحَقُّ ۖ فَمَاذَا بَعْدَ ٱلْحَقِّ إِلَّا ٱلضَّلَٰلُ ۖ فَأَنَّىٰ تُصْرَفُونَ ﴾[1] «ووایه (ای پیغمبره) څوك تاسې ته له آسمان او ځمکې څخه روزي درکوي؟ اوڅوك دی هغه ذات چي د اوریدو او لیدو (سترګو) مالك دی، او څوك دی هغه ذات چي ژوندی له مړه او مړ له ژوندي څخه پیدا کوي، او څوك دی هغه ذات چي د هر څه تدبیر کوي؟ نو ژر ده چي دوی به (په ځواب کې) ووایي: الله نو (ورته) ووایه چي آیا نه ویریږئ؟ نو ددغه صفاتو

(۱) یونس (۳۱- ۳۲).

مالك الله ستاسې په حقه پروردګار دی، او له حق وروسته د ګمراهۍ پرته نور څه دي، نو دوی کوم لوري ته ګرځول کیږي؟».

**څلورم : د الله تعالی په نومونو او صفاتو باندې ایمان:**

یعني هغه نومونه او صفات چې الله تعالی خپل ځان ته په قرآن کریم کښې ثابت کړي دي او یاد پیغمبر ﷺ په احادیثو کښې ورته ثابت شوي دي، الله تعالی ته د هغه د شان سره سم ثابتول، بې له کوم ډول بدلولو یا مُعَطّل (بې معنی) کولو یا کیفیت او څرنګوالي بیانولو یا مثال بیانولو او یا له څه سره تشبیه ورکولو.

الله تعالی فرمایي: ﴿ وَلِلَّهِ ٱلۡأَسۡمَآءُ ٱلۡحُسۡنَىٰ فَٱدۡعُوهُ بِهَاۖ وَذَرُواْ ٱلَّذِينَ يُلۡحِدُونَ فِيٓ أَسۡمَـٰٓئِهِۦۚ سَيُجۡزَوۡنَ مَا كَانُواْ يَعۡمَلُونَ ﴾(١) «او خاص الله لره ښه ښکلي نومونه (او صفات) دي، نو تاسې الله په هغې نومونو راوبلئ او پرېږدئ هغه کسان چې دده په نومونو کښې کوږوالی کوي، ژر ده چې د خپلو اعمالو په سزا به ورسیږي».

او فرمایي: ﴿ وَلَهُ ٱلۡمَثَلُ ٱلۡأَعۡلَىٰ فِي ٱلسَّمَـٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۚ وَهُوَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡحَكِيمُ ﴾(٢) «او دالله لپاره ډېر

---

(١) الأعراف (١٨٠).
(٢) الروم (٢٧).

اوچت مثال دی په آسمانونو او ځمکه کښې، او هغه غالب ذات او حکمت والا دی».

او فرمايي: ﴿ لَيۡسَ كَمِثۡلِهِۦ شَيۡءٞۖ وَهُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلۡبَصِيرُ﴾[1] «د هغه په څیر هیڅ شی نشته، او هغه اوریدونکئ او لیدونکئ ذات دی».

**او په دې مسئله کښې دوه ډلې گمراه شوې دي:**

**لمړئ ډله (مُعطّله):** هغه کسان چې د ټولو نومونو او صفاتو او یا ځینې نومونو او صفاتو څخه يې انکار کړی دی، او دا غلط گمان کوي چې الله

(۱) الشورى (۱۱).

تعالی ته د هغې په ثابتولو سره د الله له مخلوق سره تشبیه لازمیږي، اودا گمان دڅو وجوهاتو له مخې غلط دی:

١- دا عقیده ساتل باطل نتائج لري، ځکه ددې معنی داده چي د الله تعالی خبرې له یو بل سره ټکر او تناقض لري، ځکه الله تعالی د خپل ځان لپاره نومونه او صفات ثابت کړي دي او بیایې فرمایلي دي چي دده په څیر هیڅ شي نشته، نو که د نومونو او صفاتو له اثبات څخه تشبیه لازمیږي نو دده په خبرو کښې به (والعیاذبالله) ټکر او تناقض موجود وي ځیني خبرې به یې ځیني نورې دروغجنې کوي او ردوي.

٢- دا ضرور نه ده چي دوه شیان چي نوم یا صفت یې سره یو وي نو دا دواړه به یو شان وي ځکه ته ګورې چي دوه کسان انسانان هم وي او اوریدونکي او لیدونکي او خبرې کوونکي هم وي خو دا ضرور نه ده چي په انساني صفاتو او اوریدو او لیدو او خبرو کښې به یو شان وي.

او ته ګورې چي حیوانات لاسونه او پښې او سترګې لري، خو ددې معنی دا نه ده چي د ټولو لاسونه او پښې او سترګې به یو شان وي.

نو کله چي د مخلوقاتو تر منځ چي نومونه اوصفات یې یو شان وي توپیر شته، نو دخالق (پیدا کوونکي ذات) او مخلوق تر منځ خو به توپیر ډیر

لوی او ښکاره وي.

**دوهمه ډله (مُشبّهه):** هغه کسان دي چي الله تعالی ته نومونه او صفات خو ثابتوي، مګر هغه دمخلوق (له نومونو او صفاتو) سره مشابه او یو شان ګڼي، او دا ګمان کوي چي د آیاتونو او احادیثو د معنی تقاضا همدا ده، ځکه الله تعالی بندګانو ته دهغوی د فهم او پوهې مطابق خطاب کوي (یعنی هغوی ته داسي خطاب کوي چي پرې پوهیږي).

**او دا عقیده هم د څو وجوهاتو له مخې باطله ده:**

١- د الله تعالی له خپل مخلوق سره مشابهت (یو شان والي) هم د عقل په لحاظ او هم په شرعي

لحاظ باطل دی، او دا ممکنه نه ده چې د قرآن کريم آيات يا نبوي احاديث د يو باطل شي تقاضا وکړي.

۲- الله د اصلي معنی له مخې بندګانو ته داسې خطاب کوي چې پرې پوهيږي، خو ليکن د خپل ذات او صفاتو د حقيقت او کيفيت علم يې له خپل ځان سره ساتلئ دی.

نو کله چې الله تعالی د خپل ځان په هکله وفرمايي چې سميع (اوريدونکی) دی، نو سمع (اوريدل) خو د اصلي معنی له مخې معلومه ده چې آواز اوريدو ته ويل کيږي، ليکن د الله تعالی د سمع (اوريدو) په هکله يې حقيقت معلوم نه دی ځکه د اوريدو حقيقت او ماهيت په مخلوقاتو کښې له يو بل

سره فرق او توپیر لري، نو د خالق او مخلوق تر منځ خو به په هغې کښې فرق او توپیر ډیر زیات او واضح او څرګنده وي.

او کله چې الله تعالى د خپل ځان په هکله وفرمایي چې په عرش باندې یې استوا کړې ده نو استوا خو د اصلي معنى له مخې معلومه ده[1]، خو لیکن پر عرش باندې د الله تعالى د استوا حقیقت او ماهیت معلوم نه دی ځکه چې د استوا حقیقت په مخلوقاتو کښې له یو بل سره فرق او توپیر لري، (دمثال په توګه) په یوه ثابته او مضبوطه کرسۍ

(۱) استوا: یعني بره کیدل، پورته کیدل، برابریدل.

(چوکۍ) دپاسه بره کیدل (برابریدل) دیوه شوخ او سرکشه اوښ د بار د پاسه له بره کیدو (برابریدو) سره توپیر لري، نو کله چي استوا د مخلوق په حق کي له یو بل سره فرق لري نو د خالق (پیداکوونکي ذات) او مخلوق تر منځ خو به په هغې کښې فرق ډیر ښکاره او لوی وي.

**او په الله تعالی باندې دا ډول ایمان چي ذکر مو کړ مؤمنانو ته لویې فایدې ورپه برخه کوي چي ځینې یې په لاندې ډول دي:**

۱- د الله تعالی توحید (یعنی د هغه په وحدانیت پوره ایمان لرل) په داسي ډول چي د هغه پرته له بل هیچا څخه نه تمه ولري او نه وویریږي

او نه د هغه پرته د بل چا عبادت وکړي.

**۲**- د الله تعالی د ښو نومونو او عالي صفاتو په مقتضی سره سم د هغه تعظیم او له هغه سره پوره محبت ساتل.

**۳**- الله تعالی چي په څه شي سره امر کړی دی د هغې په کولو او له څه شي څخه چي يې منع کړې ده له هغې څخه په ځان ژغورلو سره د الله تعالی عبادت کول.

## (پنځم فصل)

## (دوهم رکن) په پرښتو باندې ایمان

**پرښتې:** یو پټ غیبي مخلوق دی چه د الله تعالی عبادت کوي، او د ربوبیت او اُلوهیت هیڅ خاصیت په کښې نشته، الله تعالی له نور (رڼا) ځخه پیدا کړې دي، او د خپل امر او حکم پوره او هر اړخیزه اطاعت کولو او د هغې د پرځای کولو توان یې ورپه برخه کړی دی، الله تعالی فرمایي: ﴿ وَمَنۡ عِندَهُۥ لَا يَسۡتَكۡبِرُونَ عَنۡ عِبَادَتِهِۦ وَلَا يَسۡتَحۡسِرُونَ يُسَبِّحُونَ

ﭐلَّيۡلَ وَٱلنَّهَارَ لَا يَفۡتُرُونَ ﴾[١] «هغه (پرښتې) چي لـه (الله) سره دي دده له عبادت نه کبر او ځان لويي نه کوي او نه ستړې کيږي، شپه او ورځ تسبيح وايي او نه سستيږي».

او پرښتې ډيرې زياتې دي او شمير يې لـه الله تعالى پرتـه بل چا تـه معلوم نـه دی، پـه بخـاري او مسلم کښې د حضرت انس ﷺ پـه هغـه حديث کښـې چـې د معراج قيصـه يـې پـه کښـې روايـت کـړې ده راغلـي دي: (إِنَّ النَّبِيَّ ﷺ رُفِعُ لَهُ الْبَيْتُ الْمَعْمُـــوْرُ فِـــي السَّمَاءِ يُصَلِّيْ فِيْهِ كُلَّ يَوْمٍ سَبْعُوْنَ أَلْفَ مَلَكٍ، إِذَا خَرَجُوْا

(١) الأنبياء (١٩- ٢٠).

لَمْ يَعُوْدُوْا إِلَيْهِ آخِرَ مَا عَلَـيْهِمْ )(١) «پیغمبر ﷺ تـه (د معراج په شپه) بیت معمور وروښودل شو چې هره ورځ اویا زره پرښتې په کښې لمونځ کوي چې ورځخه راووزي بیا هیڅکله تر پایه واپس نه ورګرځي» (یعني دپرښتو د ډیروالي اوکثرت په وجه ددوي هیڅ ډلې ته په بیت معمور کښې دبل ځل لمونځ کولو نوبت هیڅکله نه ور رسیږي).

**او په پرښتو باندې ایمان څلورو شیانو ته شاملیږي:**

(١) صحيح البخاري ( كتاب بدء الخلق، حديث٣٢٠٧، كتاب المناقب، حديث ٣٨٨٧)، صحيح مسلم (كتاب الإيمان، حديث ١٦٤).

**١**- د دوی په موجوديت باندې ايمان.

**٢**- په دوی کښې چې د چا نوم راته معلوم وي لکه جبريل عليه السلام په هغه باندې له نامه سره ايمان لرل، او د چا نوم چې راته معلوم نه وي په هغه باندې د اجمال په توګه ايمان درلودل.

**٣**- د دوی کوم صفات چې راته معلوم دي په هغې باندې ايمان درلودل، لکه د جبريل صفت، پيغمبر ﷺ فرمايي چې جبريل عليه السلام يې په خپل اصلي حالت (چه پرې پيدا شوي) ليدلئ دی چې شپږ سوه وزر يې درلودل او د آسمان څنډه (کناره) يې ټوله پټه (بنده) کړې وه.

او پرښته کله ځان د الله تعالی په حکم سره د

سړي په شکل بدلوي، لکه جبریل الکيلا چي کله الله تعالی مریم بي بي ته ورواستاوه بالکل د انسان په شکل کښي ورته څرگند شو.

او همدا راز (یو ځل) پیغمبر ﷺ ته چي له خپلو ملگرو سره ناست وو د یو تکو سپینو جامو او تکو تورو ویښتانو والا سړي په شکل کښي راغی چي د سفر څه نښه وربانديي نه لیدل کیده او په اصحابو رضي الله عنهم کښي هیچا نه پیژانده، او پیغمبر ﷺ ته ورکښیناست، او خپل زنگونه يې د پیغمبر ﷺ له زنگونو سره ولگول او لاسونه يې په ورنونو کښیښودل، او له پیغمبر ﷺ څخه يې د اسلام او ایمان او احسان او قیامت او د هغې د نښو په باره

کښې پوښتنې وکړې، او پیغمبر ﷺ ځواب ورکړ او (بیا) ولاړ، نو پیغمبر ﷺ وفرمایل: (هــذَا جِبْرِيْــلُ أَتَاكُمْ يُعَلِّمُكُمْ دِيْنَكُمْ)(١) «دا جبریل ؈ وو راغلی وو چې تاسې ته ستاسو دین در زده کړي».

همدا راز هغه پرښتې چې الله تعالی حضرت ابراهیم او حضرت لوط η ته ورواستاولې د سړیو په شکل کښې وې.

٤- د پرښتو له هغو اعمالو څخه چې د الله تعالی په امر سره یې ترسره کوي چې کوم اعمال مونږ ته معلوم دي په هغې باندې ایمان لرل، لکه د

---

(١) صحيح مسلم (كتاب الإيمان، حديث ٨).

الله تعالی تسبيح ويل او پاکي بيانول او شپه او ورځ لـه کـومې سـتومانۍ او سسـتۍ پرتـه د هغـه عبـادت کول.

**اوکيـدای شـي پــه دوی کښـې ځينـې پرښـتې خاص کارونه ولري:**

لکه **جبريل أمين** عليه السلام چـي الله تعـالی د وحـي رسولو دنده ورسپارلې ده او دده له لارې پيغمبرانـو ته وحي استوي.

او لکـه **ميکائيـل** عليه السلام چــي د بـاران او نباتــاتو (بوټو) وظيفه ورسپارل شوې ده.

او لکـه **اسـرافيل** عليه السلام چــي د قيامـت کيـدو او خلکـو د راپورتـه کيـدو پـه وخـت د شـپيلۍ پوکولـو

(وهلو) دنده په غاړه لري.

او لکه **ملك الموت (دمرګ پرښته)** چې د مرګ په وخت د روحونو د قبض کولو او ساه اخیستلو کار ورکړل شوی دی.

او لکه **مالك** چې دوزخ ورسپارل شوی دی او د دوزخ خزانچي دی.

او لکه هغه پرښتې چې دمیندو په ګېډو او رَحِمونو کښې پر کوچنیانو وظیفه لري، کله چې ماشوم دمور په ګیډه کښې دڅلورو میاشتو شي نو الله تعالی یوه پرښته ورولیږي او امر ورته وکړي چې رزق (روزي) او اځل (اجل) یې ولیکي او دا ولیکي چې بدبخته دی او که نیکبخته.

او لکه هغه پرښتې چې د انسانانو د اعمالو حفاظت کوي او د هر چا عمل لیکي، (له هر چا سره) دوه پرښتې یوه ښي لوري ته او بله کیڼ لوري ته وي.

او لکه هغه پرښتې چې د مړي نه د سوال او تپوس کولو دنده ورسپارل شوې ده، کله چې په قبر کښې کښیښودل شي نو دوه پرښتې ورته راشي او دده د رب (پروردگار) او دین او پیغمبر په باره کښې پوښتنې ور څخه کوي.

**او په پرښتو باندې ایمان لرل ډیرې گټې او فایدې لري** چې ځینې یې په لاندې ډول دي:

۱- د الله تعالی په لویئ او عظمت او دده په

قوت او پادشاهئ علم پیدا کیدل، ځکه د مخلوق لویي او عظمت د خالق او پیداکوونکي په لویئ او عظمت باندې دلالت کوي.

۲- د الله تعالی شکر ادا کول چي انسانانو ته يې توجه او پاملرنه کړې ده، او له همدې پرښتو څخه يې ځينې ددوی په حفاظت او ساتنه او د اعمالو په ليکلو او داسې نورو کارونو مقررې کړې دي چي ددوی په کښې ګټه او مصلحت دی.

۳- له پرښتو سره محبت پيدا کيدل چي دوی د الله تعالی عبادت کوي.

**او يوه ګمراه ډله له دې څخه منکر ده چي پرښتې جسم لري** او وايي چي پرښتې په مخلوقاتو

کښې د خیر یو پټ قوت دی.

او د دوی دا وینـا (او عقیـده) د قـرآن کـریم او د پیغمبر ﷺ احادیث او د مسلمانانو اجماع دروغ ګڼل دي.

الله تعالی فرمايي: ﴿ ٱلْحَمْدُ لِلَّهِ فَاطِرِ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ جَاعِلِ ٱلْمَلَٰٓئِكَةِ رُسُلًا أُوْلِىٓ أَجْنِحَةٍ مَّثْنَىٰ وَثُلَٰثَ وَرُبَٰعَ ﴾[(۱)] «ستاینه ده هغه الله لره چې د آسمانونو او ځمکې پیدا کوونکئ دی، اوله پرښتو څخه یې استازي جوړ کړي دي، چې دوه دوه او درې درې او څلور څلور وزر لري».

(۱) فاطر (۱).

او فرمايي: ﴿ وَلَوۡ تَرَىٰٓ إِذۡ يَتَوَفَّى ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ يَضۡرِبُونَ وُجُوهَهُمۡ وَأَدۡبَٰرَهُمۡ ﴾(١) «او که ته هغه حالت ووینې چې پرښتې د کفارو روح اخلي په داسې حال کښې چې ددوی مخونه او شاګانې وهي».

او فرمايي: ﴿ وَلَوۡ تَرَىٰٓ إِذِ ٱلظَّٰلِمُونَ فِي غَمَرَٰتِ ٱلۡمَوۡتِ وَٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ بَاسِطُوٓاْ أَيۡدِيهِمۡ أَخۡرِجُوٓاْ أَنفُسَكُمُ ﴾(٢)، «او که ته ووینې هغه وخت چې ظالمان د مرگ په سختیو کښې وي او (دعذاب) پرښتو خپل لاسونه

---

(١) الأنفال (٥٠).
(٢) الأنعام (٩٣).

(ددوی د روح اخيستو لپاره) غځولي وي (او دوی ته وايي) خپل ارواح او ساهګاني راوباسئ).

او فرمايي: ﴿ حَتَّىٰٓ إِذَا فُزِّعَ عَن قُلُوبِهِمۡ قَالُواْ مَاذَا قَالَ رَبُّكُمۡۖ قَالُواْ ٱلۡحَقَّۖ وَهُوَ ٱلۡعَلِيُّ ٱلۡكَبِيرُ ﴾(١) **«کله چي** ددوی ( يعني پرښتو) له زړونو څخه ويره ختمه شي نو (يو بل ته سره) ووايي ستاسي پروردګار څه وويل؟ نو (په ځواب کښي) ووايي چي حق خبره، او هغه اوچت او لوی ذات دی».

---

(١) سبأ (٢٣).

او د جنتیانو په هکله فرمایي: ﴿ وَٱلْمَلَٰٓئِكَةُ يَدْخُلُونَ عَلَيْهِم مِّن كُلِّ بَابٍ سَلَٰمٌ عَلَيْكُم بِمَا صَبَرْتُمْ ۚ فَنِعْمَ عُقْبَى ٱلدَّارِ ﴾[١] «او پرښتې به داخلیږي په دوی باندې له هرې دروازې څخه (او ورته به وایي) پر تاسو دې سلام وي په سبب د صبر کولو ستاسو، نو ښه دی پای او عاقبت ددې ځای (جنت)».

او په بخاري شریف کښې له حضرت ابوهریره ﷺ څخه روایت دی چې پیغمبر ﷺ وفرمایل: «إِذَا أَحَبَّ اللهُ الْعَبْدَ نَادَى جِبْرِيْلَ: إِنَّ اللهَ يُحِبُّ فُلاَناً فَأَحِبَّهُ، فَيُحِبُّهُ جِبْرِيْلُ، فَيُنَادِيْ جِبْرِيْلُ فِيْ أَهْلِ السَّمَاءِ: إِنَّ اللهَ يُحِبُّ فُلاَناً

---

(١) الرعد (٢٣- ٢٤).

فَأَحِبُّوْهُ فَيُحِبُّهُ أَهْلُ السَّمَاءِ، ثُمَّ يُوْضَعُ لَهُ الْقَبُوْلُ فِي الْأَرْضِ)[1]

«کله چي الله تعالی له يو بنده سره محبت وکړي نو جبريل ﷺ ته آواز وکړي چي الله تعالی له فلاني سره محبت لري او ته هم محبت ورسره وکړه، نو جبريل ﷺ هم محبت ورسره وکړي، نو بيا جبريل د آسمان اوسيدونکو ته آواز وکړي چه الله تعالی له فلاني سره محبت لري نو تاسي هم محبت ورسره وکړئ، نو هغوی هم محبت ورسره وکړي، او بيا په ځمکه کښي محبوبيت ورپه برخه کړي».

(١) صحيح البخاري (كتاب بدأ الخلق، حديث ٣٢٠٩، كتاب الأدب، حديث ٦٠٤٠)، صحيح مسلم (كتاب البر والصلة والآداب،حديث ٢٦٣٧).

او په صحيح البخاري كښې له حضرت ابوهريره ﷺ څخه بل روايت دی چې پيغمبر ﷺ فرمايي: (إِذَا كَانَ يَوْمُ الْجُمْعَةِ كَانَ عَلَى كُلِّ بَابٍ مِّنْ أَبْوَابِ الْمَسْجِدِ مَلاَئِكَةٌ يَّكْتُبُوْنَ الْأَوَلَ فَالْأَوَلَ، فَإِذَا جَلَسَ الْإِمَامُ طَوَّوُا الصُّحُفَ وَجَاؤُوْا يَسْتَمِعُوْنَ الذِّكْرَ)[1] «د جمعې په ورځ د مسجد په هره دروازه كښې پرښتې وي، او (مسجد ته ننوتونكي) يو په بل پسې ليكي، او كله چې امام (په منبر) باندې كښيني نو دوی كتابچې بندې كړي او راشي ذكر او خطبې ته غوږ

(١) صحيح البخاري (كتاب بدء الخلق، حديث ٣٢١١)، صحيح مسلم (كتاب الجمعة، حديث ٨٥٠).

شي».

او دا ټول آيات او احاديث په صراحت سره دا په ډاګه کوي چې پرښتې اجسام دي او (صرف) معنوي قوتونه نه دي لکه څنګه چې ګمراهان وايي، او ددې آياتونو او احاديثو په مقتضی او مفاد باندې ټول مسلمانان متفق او هم نظر دي.

# (شپږم فصل)

# (دریم رکن)

# په کتابونو باندې ایمان

کتابونه: **دکتاب جمع ده، او کتاب (مکتوب) یعني (لیکل شوي) شي ته وایي.**

**او دلته هغه کتابونه ورڅخه مراد دي چې** الله تعالی پر خلکو د رحمت په توګه دهغوی دهدایت او لارښوونې لپاره پر خپلو پیغمبرانو را نازل کړي دي، ترڅو دهغې له لارې خلك په دنیا او آخرت کښې نیکبخته شي.

**او په کتابونو باندې ایمان لرل پر څلورو**

**شیانو مشتمل دی:**

۱- په دې باندې ایمان لرل چې دا کتابونه په حقه دالله تعالی له لوري را نازل شوي دي.

۲- په دې کتابونو کښې چې دکوم کتاب نوم مونږ ته معلوم وي په هغې باندې په نوم سره ایمان لرل، لکه قرآن کریم چې په محمد ﷺ باندې نازل شوی دی، او تورات چې په موسی ﷺ باندې نازل شوی دی، او انجیل چې په عیسی ﷺ باندې نازل شوی دی، او زبور چې داود ﷺ ته ورکړل شوی دی، او کوم کتابونه چې مونږ ته معلوم نه دي په هغی باندې د اجمال په توګه ایمان لرو.

۳- ددې کتابونو هغه اخبار او وینـاوې رښتیا

ګڼل چي په صحيح توګه مونږ ته رارسيدلي دي لکه دقرآن کريم اخبار او د پخوانيو کتابونو هغه اخبار چي تبديل شوي او تحريف شوي نه دي.

٤- ددې کتابونو په هغو احکامو باندې عمل کول چي منسوخ شوي نه دي، او دهغې منل او ورته غاړه ايښودل، که يې په حکمت باندې پوه وو او که نه.

او پخواني ټول کتابونه په قرآن کريم سره منسوخ شوي دي، الله تعالى فرمايي: ﴿ وَأَنزَلۡنَآ إِلَيۡكَ ٱلۡكِتَٰبَ بِٱلۡحَقِّ مُصَدِّقٗا لِّمَا بَيۡنَ يَدَيۡهِ مِنَ ٱلۡكِتَٰبِ

وَمُهَيۡمِنًا عَلَيۡهِ ﴾[1] «او مونږ تاته دا کتاب په حقه نازل کړ چي دمخکینیو کتابونو تصدیق کوونکۍ او په هغې باندې حاکم دی».

اوله همدې کبله د پخوانیو کتابونو په هیڅ حکم باندې عمل کول جواز نه لري مگر هغه څه چي صحیح وي او قرآن کریم تایید کړي وي.

**او په کتابونو باندې ایمان لرل ډیرې لویې فایدې لري چي ځینې یې دادي:**

۱- خپلو بندگانو ته دالله تعالی په توجه او پوره پاملرنه باندې علم پیداکیدل، چي هر قوم ته یې داسې

(۱) المائدة (٤٨).

كتاب نازل كړی دی چي دوی ته هدايت او لارښوونه وكړي.

٢- دشريعت په وضع كولو كښې د الله تعالى په حكمت باندې علم پيداكيدل، چي دهر قوم (امت) لپاره يې دهغوی داحوالو سره مناسب (سم) احكام وضع كړي دي، لكه چي الله تعالى فرمايي: ﴿ لِكُلٍّ جَعَلْنَا مِنكُمْ شِرْعَةً وَمِنْهَاجًا ﴾[١] «او په تاسې كښې مو د هر قوم لپاره يو شريعت او روښانه لاره ټاكلې ده».

٣- پــه دې هكلــه د الله تعــالى د نعمــت شــكر اداكول.

---

(١) المائدة (٤٨).

## (اوم فصل)

## (شلورم رکن)

## په رسولانو او پیغمبرانو باندې ایمان

**رسولان** : د رسول جمع ده، چي استازي او هغه چا ته ویل کیږي چه د یو شي د رسولو لپاره لیږل شوی وي.

او دلته هغه انسانان ور څخه مراد دي چي (د الله له لوري) د یو شریعت وحي او د هغې د رسولو حکم او امر ورته شوی وي.

الله تعالی فرمایي: ﴿ إِنَّآ أَوۡحَيۡنَآ إِلَيۡكَ كَمَآ أَوۡحَيۡنَآ إِلَىٰ نُوحٖ وَٱلنَّبِيِّـۧنَ مِنۢ بَعۡدِهِۦۚ ﴾[1] «بیشکه مونږ تاته وحي کړې ده لکه نوح او له هغه څخه وروسته نورو پیغمبرانو ته مو چې وحي کړې وه».

او په صحیح البخاري کښې له حضرت انس بن مالك ﷺ څخه د شفاعت په حدیث کښې راغلي دي چې: (إِنَّ النَّبِيَّ ﷺ ذَكَرَ أَنَّ النَّاسَ يَأْتُوْنَ إِلى آدَمَ لِيَشْفَعَ لَهُمْ، فَيَعْتَذِرُ إِلَيْهِمْ وَيَقُوْلُ: ائْتُوْا نُوْحاً أَوَّلَ رَسُوْلٍ بَعَثَهُ اللهُ) وذكر تمام الحديث[2] «پیغمبر ﷺ دا خبره

(١) النساء (١٦٣).
(٢) صحیح البخاري (کتاب الرقاق، حدیث٦٥٦٥، کتاب التوحید، حدیث٧٤١٠).

یاده کړه چې خلك به د قیامت په ورځ آدم ﷺ ته راشي چې ددوی لپاره (د الله په وړاندې) شفاعت (سفارښت) وکړي او دی به معذرت وغواړي او وبه وايي ورشئ نوح ﷺ لمړني پیغمبر ته چې الله تعالی استولئ دی»، او بیا یې د حدیث نوره برخه ذکر کړه.

او الله تعالی د محمد ﷺ په باره کښې فرمایي: ﴿ مَّا كَانَ مُحَمَّدٌ أَبَآ أَحَدٍ مِّن رِّجَالِكُمْ وَلَٰكِن رَّسُولَ ٱللَّهِ وَخَاتَمَ ٱلنَّبِيِّـۧنَ ﴾(١) «محمد ﷺ ستاسو د سړیو (نارینه وو) د هیچا پلار نه دی، خو لیکن د الله پیغمبر او د پیغمبرانو ختموونکئ دی».

(١) الأحزاب (٤٠).

او هیڅ امت او قوم داسې نشته چې الله تعالی پکښې له مستقل شریعت سره پیغمبر او یا داسې پیغمبر نه وي لیږلی چې دمخکیني شریعت دبیا نوي کولو وحي ورته شوې وي.

الله تعالی فرمايي: ﴿ وَلَقَدْ بَعَثْنَا فِي كُلِّ أُمَّةٍ رَّسُولاً أَنِ ٱعْبُدُواْ ٱللَّهَ وَٱجْتَنِبُواْ ٱلطَّـٰغُوتَ ﴾[1] «او یقیناً مونږ په هر امت کښې پیغمبر استولئ دی (په دې خبره) چې د الله عبادت وکړئ او له الله څخه پرته دبل چا له بندګئ څخه ځان وژغورئ».

---

(۱) النحل (۳٦).

او فرمايي: ﴿ وَإِن مِّنْ أُمَّةٍ إِلَّا خَلَا فِيهَا نَذِيرٌ ﴾[1] «او نه دی هیڅ امت مګر په هغې کښې یو ویروونکی (پیغمبر) تیر شوی دی».

او فرمايي: ﴿ إِنَّآ أَنزَلْنَا ٱلتَّوْرَىٰةَ فِيهَا هُدًى وَنُورٌ ۚ يَحْكُمُ بِهَا ٱلنَّبِيُّونَ ٱلَّذِينَ أَسْلَمُوا۟ لِلَّذِينَ هَادُوا۟ ﴾[2] «بې شکه مونږ تورات را نازل کړی دی چي په هغې کښې لارښوونه او رڼا وه، په هغې باندې به حکم منونکو (تابعدارو) پیغمبرانو د یهودو فیصلې کولې».

(۱) فاطر (۲٤).
(۲) المائدة (٤٤).

او پیغمبران مخلوق (پیدا کړل شوي) انسانان دي، او د ربوبیت او ألوهیت هیڅ خاصیت نه لري، الله تعالی د خپل پیغمبر محمد ﷺ په هکله - چي د ټولو پیغمبرانو سردار او د الله په وړاندې تر ټولو د لویې مرتبې خاوند دی- فرمایي: ﴿ قُل لَّآ أَمۡلِكُ لِنَفۡسِي نَفۡعٗا وَلَا ضَرًّا إِلَّا مَا شَآءَ ٱللَّهُۚ وَلَوۡ كُنتُ أَعۡلَمُ ٱلۡغَيۡبَ لَٱسۡتَكۡثَرۡتُ مِنَ ٱلۡخَيۡرِ وَمَا مَسَّنِيَ ٱلسُّوٓءُۚ إِنۡ أَنَا۠ إِلَّا نَذِيرٞ وَبَشِيرٞ لِّقَوۡمٖ يُؤۡمِنُونَ ﴾(۱) «ووایه (ای پیغمبره) زه دخپل ځان لپاره دهیڅ ګټې (رسولو) او ضرر (دفع کولو) واك نه لرم مگر هغه څه چي الله

(۱) الأعراف (۱۸۸).

وغواړي، او که چیرې زه په غیبو پوهیدلای نو ډیر خیر به مې تر لاسه کړی وو او هیڅ زیان به نه وو راته رسیدلی، نه یم زه مگر ویرونکی اوزیری ورکوونکی داسې قوم ته چې ایمان لري».

او فرمایي: ﴿ قُلۡ إِنِّي لَآ أَمۡلِكُ لَكُمۡ ضَرّٗا وَلَا رَشَدٗا قُلۡ إِنِّي لَن يُجِيرَنِي مِنَ ٱللَّهِ أَحَدٞ وَلَنۡ أَجِدَ مِن دُونِهِۦ مُلۡتَحَدًا ﴾[١] «ووایه (ای پیغمبره) بې شکه زه ستاسې لپاره د هیڅ ضرر او خیر واك نه لرم، ووایه بې شکه ماته به له الله څخه هیڅوك پناه رانه کړي، او هیڅکله به له ده پرته بل د پناه ځای ونه مومم».

او په پیغمبرانو کښې د انسانانو خاصیتونه

(١) الجن (٢١- ٢٢).

شته، لکه مرض مرگ او خوراك او څښاك ته اړتیا، او داسې نور.

الله تعالی د حضرت ابراهیم ﷺ په هکله فرمایي چي خپل پروردگار يې داسې ستایلئ دی: ﴿ وَٱلَّذِى هُوَ يُطۡعِمُنِى وَيَسۡقِينِ وَإِذَا مَرِضۡتُ فَهُوَ يَشۡفِينِ وَٱلَّذِى يُمِيتُنِى ثُمَّ يُحۡيِينِ ﴾(۱) «او هغه الله چي ماته خوراك او څښاك راکوي، او چي کله مریض شم نو ماته شفا او عافیت راکوي، او هغه ذات چي ما مړ کوي او بیا مې را ژوندی کوي».

او پیغمبر ﷺ فرمایي: (إِنَّمَا أَنَا بَشَرٌ مِّثْلُكُمْ أَنْسَى

(۱) الشعراء (۷۹- ۸۱).

كَمَا تَنْسَوْنَ، فَإِذَا نَسِيْتُ فَــذَكِّرُوْنِيْ)[۱] «بې شکه زه ستاسې په څیر بشر یم، هیرول کوم لکه تاسې چې هیرول کوئ، نو کله چې څه شې رانه هیر شي نو تاسې یې راته یاد کړی».

الله تعالی دوی په خپلو لوړو درجو کښې د مدح او صفت په توګه په بندګئ سره ستایلي دي.

د نوح ﷺ په هکله فرمایي: ﴿ إِنَّهُۥ كَانَ عَبۡدٗا شَكُورٗا ﴾[۲] «بې شکه هغه ډیر شکر کوونکئ بنده وو».

(۱) صحیح البخاري (کتاب الصلاة، حدیث۴۰۱)، صحیح مسلم (کتاب المساجد ومواضع الصلاة، حدیث۵۷۲).
(۲) الإسراء (۳).

او د محمد ﷺ په هکله فرمايي: ﴿ تَبَارَكَ ٱلَّذِى نَزَّلَ ٱلْفُرْقَانَ عَلَىٰ عَبْدِهِۦ لِيَكُونَ لِلْعَٰلَمِينَ نَذِيرًا ﴾[١] «برکت والا دی هغه ذات چي په خپل بنده باندې يې قرآن را نازل کړی دی تر څو د جهانيانو لپاره ويروونکئ وي».

او د ابراهيم او اسحاق او يعقوب ‰ په هکله فرمايي: ﴿ وَٱذْكُرْ عِبَٰدَنَآ إِبْرَٰهِيمَ وَإِسْحَٰقَ وَيَعْقُوبَ أُو۟لِى ٱلْأَيْدِى وَٱلْأَبْصَٰرِ إِنَّآ أَخْلَصْنَٰهُم بِخَالِصَةٍ ذِكْرَى ٱلدَّارِ وَإِنَّهُمْ عِندَنَا لَمِنَ ٱلْمُصْطَفَيْنَ ٱلْأَخْيَارِ ﴾[٢] «او ياد کړه

(١) الفرقان (١).
(٢) ص (٤٥- ٤٧).

زمونږ بندګان ابراهیم او اسحاق اویعقوب ‏ϕ‏ دلاسونو او سترګو خاوندان، بې شکه مونږ دوی د آخرت یادولو (یاد ساتلو) په خاصیت سره خالص ګر ځولي وو، او بې شکه دوی زمونږ په وړاندې خامخا له غوره او صفا کړی شوو خلکو څخه دي».

او د عیسی بن مریم ﷺ په هکله فرمایي: ﴿ إِنۡ هُوَ إِلَّا عَبۡدٌ أَنۡعَمۡنَا عَلَيۡهِ وَجَعَلۡنَٰهُ مَثَلاً لِّبَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ ﴾ (۱) «نه دی عیسی بن مریم مګر یو بنده چې مونږ احسان ورباندې کړی دی او د بني اسرائیلو لپاره مو مثال ګرځولی دی».

(۱) الزخرف (۵۹).

**او په پیغمبرانو باندې ایمان څلور شیان په برکښې نیسي:**

**لمړئ**: په دې ایمان لرل چي د دوی نبوت او پیغمبري حق او د الله تعالی له لوري ده، او څوك چي د یوه پیغمبر له پیغمبرئ او رسالت څخه منکر شي نو هغه له ټولو څخه منکر بلل کیږي، لکه څنګه چي الله تعالی فرمایي: ﴿كَذَّبَتۡ قَوۡمُ نُوحٍ ٱلۡمُرۡسَلِينَ﴾[1] «د نوح قوم د پیغمبرانو تکذیب کړی وو» (یعني ټول یې دروغ ګڼلي وو)، نو الله تعالی دوی د ټولو پیغمبرانو تکذیب کوونکي او دروغ ګڼونکي وبلل، په

(۱) الشعراء (۱۰۵).

داسې حال کښې چې هغه وخت له ده پرته بل پیغمبر نه وو، او په همدې وجه نصاراوو چې د محمد ﷺ تکذیب کړی دی او د هغې له پیروئ څخه یې سرغړونه کړې ده (په حقیقت کښې) د مسیح بن مریم (عیسی) ﷺ تکذیب کړی دی او د هغې پیروي یې هم نه ده کړې، خصوصًا چې ده دوی ته د محمد ﷺ په هکله زیری ورکړی وو (چې هغه به له ده څخه وروسته پیغمبر وي) او دوی ته ددې خبرې زیری ورکول له دې پرته بله معنی نه لري چې هغه به دوی ته رالیږل شوی پیغمبر وي چې الله تعالی به د هغه په ذریعه دوی ته له گمراهی

ځخه نجات ورکوي او د سمې لارې هدایت به ورته کوي.

**دوهم**: په هغو پیغمبرانو چي نومونه یې راته معلوم دي په نامه سره ایمان ساتل، لکه محمد او ابراهیم او موسی او عیسی او نوح (علیهم الصلاة والسلام)، او دا پنځه واړه اولو العزم پیغمبران دي، او الله تعالی د دوی یادونه په قرآن کریم کښې دوه ځایه کړې ده:

۱- د سورت احزاب په دې آیت کښې چي **فرمایي**: ﴿ وَإِذۡ أَخَذۡنَا مِنَ ٱلنَّبِيِّـۧنَ مِيثَٰقَهُمۡ وَمِنكَ وَمِن نُّوحٖ

وَإِبۡرَٰهِيمَ وَمُوسَىٰ وَعِيسَى ٱبۡنِ مَرۡيَمَ ﴾[۱] «او هغه وخت چې مونږ له پیغمبرانو څخه تعهد واخیست او (خصوصًا) له تا او نوح او ابراهیم او موسی او عیسی بن مریم څخه».

۲- او د سورت شوری په دې آیت کښې چې فرمايي: ﴿ شَرَعَ لَكُم مِّنَ ٱلدِّينِ مَا وَصَّىٰ بِهِۦ نُوحًا وَٱلَّذِيٓ أَوۡحَيۡنَآ إِلَيۡكَ وَمَا وَصَّيۡنَا بِهِۦٓ إِبۡرَٰهِيمَ وَمُوسَىٰ وَعِيسَىٰٓۖ أَنۡ أَقِيمُواْ ٱلدِّينَ وَلَا تَتَفَرَّقُواْ فِيهِ ﴾[۲] «(الله) ستاسې لپاره هغه دین شریعت ګرځولی دی چې نوح ﷺ ته یې په هغې سره حکم کړی وو، او هغه چې تاته مو یې

(۱) الأحزاب (۷).
(۲) الشورى (۱۳).

وحي کړې ده، او هغه چي ابراهيم او موسى او عيسى - عليهم الصلاة والسلام- ته مو يې امر کړى وو، چي دين قائم وساتئ او اختلاف په کښې مه کوئ».

او په هغو پيغمبرانو چي نوم يې نه پيژنو د اجمال په توگه ايمان لرو، الله تعالى فرمايي: ﴿ وَلَقَدۡ أَرۡسَلۡنَا رُسُلاً مِّن قَبۡلِكَ مِنۡهُم مَّن قَصَصۡنَا عَلَيۡكَ وَمِنۡهُم مَّن لَّمۡ نَقۡصُصۡ عَلَيۡكَ ﴾(۱) «او خامخا بې شکه مونږ ستا څخه پخوا پيغمبران استولي دي، د دوى د ځينو ذکر

(۱) غافر (۷۸).

او يادونه مو درته كړې ده او د ځينې نورو ذكر او يادونه مو نه ده درته كړې».

**دريم:** د هغه څه چې له پيغمبرانو ϕ څخه په صحيح توگه ثابت او مونږ ته رارسيدلي دي منل او تصديق كول.

**څلورم:** ددوى له جملې څخه چې كوم پيغمبر مونږ ته راغلى دى د هغې په شريعت باندې عمل كول، چې هغه ددوى آخرين (پيغمبر) محمد ﷺ دى او ټولو خلكو ته راليږل شوى دى، الله تعالى فرمايي: ﴿ فَلَا وَرَبِّكَ لَا يُؤۡمِنُونَ حَتَّىٰ يُحَكِّمُوكَ فِيمَا شَجَرَ بَيۡنَهُمۡ ثُمَّ لَا يَجِدُواْ فِيٓ أَنفُسِهِمۡ حَرَجٗا مِّمَّا قَضَيۡتَ

وَيُسَلِّمُواْ تَسۡلِيمٗا ﴾[1] «داسې نه ده ستا په پروردګار قسم دوی نه مومنان کیږي تر هغه پورې چې خپلې شخړې په تا باندې فیصله کړي، او بیا په خپلو زړونو کښې ستا د پریکړې په هکله هیڅ ناراضګي او ناخوښي احساس نه کړي او پوره یې ومني».

**او پـه پیغمبرانـو بانـدې ایمـان ډیـرې فایـدې لري** چي ځینې یې دادي:

**لمړی** (فایده): د الله تعالی پر رحمت او دې خبره باندې علم پیدا کیدل چې الله تعالی د خپلو بندګانو پوره خیال ساتي، نو ځکه یې دوی ته

(۱) النساء (٦٥).

پیغمبـران رااسـتولي دي چــي دوی تــه دالله دلارې ښـوونه وکـړي او دا ورتـه بیـان کـړي چــي څرنګـه دالله عبـادت وکـړي؛ ځکــه دانسـان عقـل پــه مسـتقله توګه دا نه شي پیژندلای.

**دوهمه** (فایده): دالله تعالی ددې نعمت شکر ادا (پرځای) کول.

**دریمــه** (فایـده): لـه پیغمبرانـو (علـیهم الصـلاة والسـلام) سـره مینــه سـاتل او د هغـوی تعظـیم او درناوی کول او د دوی د شان سره سم یې ښه بیـانول او درود پـرې ویـل؛ ځکــه چــي دوی د الله اسـتازي (پیغمبران) دي، د هغه عبادت یې کړی دی او د هغه دیــن یــې خلکــو تــه رسـولی دی او دده د بنــدګانو

خیرخواهي يې کړې ده.

**ضدگرو او عناد کوونکو (کفارو) د خپلو پیغمبرانو تکذیب په دې بهانه کړی دی چې د الله پیغمبران خو له انسانانو څخه نه وي!**

الله تعالی د دوی دا گمان ذکر کړي او باطل کړي دي، فرمايي: ﴿ وَمَا مَنَعَ ٱلنَّاسَ أَن يُؤۡمِنُوٓاْ إِذۡ جَآءَهُمُ ٱلۡهُدَىٰٓ إِلَّآ أَن قَالُوٓاْ أَبَعَثَ ٱللَّهُ بَشَرٗا رَّسُولٗا قُل لَّوۡ كَانَ فِي ٱلۡأَرۡضِ مَلَٰٓئِكَةٞ يَمۡشُونَ مُطۡمَئِنِّينَ لَنَزَّلۡنَا عَلَيۡهِم مِّنَ ٱلسَّمَآءِ مَلَكٗا رَّسُولٗا ﴾[1] «او خلك نه دي منع کړي له ایمان راوړو څخه - کله چې هدایت ورته راغی- مگر

(۱) الإسراء (۹٤- ۹٥).

دې خبرې او بهانې چې دوی ویل: آیا الله انسان د پیغمبر په توګه رالیږلی دی؟ ووایه (ای پیغمبره) که چیرې په ځمکه کښې پرښتې وای په آرام ګرځیدلای نو مونږ به دوی ته له آسمان څخه پرښته پیغمبر رالیږلی وو».

نو الله تعالی د دوی نوموړې خبره په دې سره باطله او رد کړه چې پیغمبر باید ضرور انسان وي، ځکه چې د ځمکې اوسیدونکو ته را استول شوی دی او هغوی انسانان دي، او که د ځمکې اوسیدونکي پرښتې وای نو بیا به الله دوی ته له آسمان څخه ضرور پرښته پیغمبر را استولی وو تر څو د دوی په شان وي.

او همدا راز الله تعالی د پیغمبرانو د تکذیب کوونکو او دروغ بلونکو په هکله فرمايي چې دوی به ویل: ﴿ إِنۡ أَنتُمۡ إِلَّا بَشَرٞ مِّثۡلُنَا تُرِيدُونَ أَن تَصُدُّونَا عَمَّا كَانَ يَعۡبُدُ ءَابَآؤُنَا فَأۡتُونَا بِسُلۡطَٰنٖ مُّبِينٖ قَالَتۡ لَهُمۡ رُسُلُهُمۡ إِن نَّحۡنُ إِلَّا بَشَرٞ مِّثۡلُكُمۡ وَلَٰكِنَّ ٱللَّهَ يَمُنُّ عَلَىٰ مَن يَشَآءُ مِنۡ عِبَادِهِۦۖ وَمَا كَانَ لَنَآ أَن نَّأۡتِيَكُم بِسُلۡطَٰنٍ إِلَّا بِإِذۡنِ ٱللَّهِ ﴾[1] «نه یاست تاسې مګر زمونږ په څیر انسانان غواړئ چې مونږ له هغه څه نه منع کړی چې زمونږ پلرونو یې عبادت کاوه، نو راوړئ مونږ ته څرګند دلیل، پیغمبرانو دوی ته وویل مونږ ستاسې

(۱) إبراهيم (۱۰- ۱۱).

په څیر انسانان یو لیکن الله احسان کوي په هغه چا چي وغواړي له خپلو بندګانو څخه، او مونږ نه شو کولای چي د الله د حکم او اجازې پرته تاسي ته څه دلیل راوړو».

# (اتم فصل)

# (پنځم رکن)

# د آخرت په ورځ باندې ایمان

د آخرت (یا وروستنئ) ورځ د قیامت ورځ ده، چې خلك به په کښې د حساب او بدلې ورکولو لپاره بیا راژوندي کیږي.

د آخرت ورځ (یا وروستنئ ورځ) ځکه ورته ویل کیږي چې له هغې وروسته بله ورځ نشته، جنتیان به په خپلو ځایونو کښې او دوزخیان به په خپلو ځایونو کښې ځای په ځای کیږي.

**او د آخرت په ورځ باندې ایمان په دریو**

**شیانو مشتمل دی:**

**لمړی: په بیا راژوندي کولو باندې ایمان لرل**، او هغه دا چي مړی به هغه وخت راژوندی کیږي چي کله په شپیلۍ (تولۍ) کښې دوهم ځل پوکړل شي، نو خلك به ټول په داسې حال کښې راپورته شي چي لوڅ او بربنډ به وي، پښې به یې لوڅې وي او ناسنته به وي، الله تعالی فرمايي: ﴿ كَمَا بَدَأْنَآ أَوَّلَ خَلْقٍ نُّعِيدُهُۥ ۚ وَعْدًا عَلَيْنَآ ۚ إِنَّا كُنَّا فَٰعِلِينَ ﴾[1] «په هماغه توگه چي لمړی پیدایښت مو پیل کړ بیا به یې راژوندي کوو، پر مونږ

(۱) الأنبیاء (۱۰٤).

باندې ژمنه (وعده) ده، هرومرو دغسې کوونکي يو».

له مرګ څخه وروسته بيا راژوندي کيدل حق او ثابت دي ، قرآن كريم او احاديث او د مسلمانانو اجماع د هغې په ثبوت باندې دلالت کوي.

الله تعالى فرمايي: ﴿ ثُمَّ إِنَّكُم بَعْدَ ذَٰلِكَ لَمَيِّتُونَ ثُمَّ إِنَّكُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ تُبْعَثُونَ ﴾[1] «او بيا تاسې له هغې وروسته مړه کيدونکي ياست، او بيا له هغې وروسته د قيامت په ورځ بيا را ژوندي کول کيږئ».

(۱) المؤمنون (۱۵- ۱٦).

او پيغمبر ﷺ فرمايلي دي: (يُحْشَرُ النَّاسُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ حُفَاةً غُرْلاً)(١) «دقيامت په ورځ به خلك لوڅې پښې او ناسنته راجمع كيږي».

او ټول مسلمانان د بيا را ژوندي كيدو په ثبوت باندې اتفاق لري، او د حكمت تقاضا هم داده چې الله تعالى دا مخلوق بيا يوه ورځ راژوندى كړي او د هغه څه بدله وركړي چې د پيغمبرانو په ژبه يې پرې مكلف كړي وو، الله تعالى فرمايي: ﴿ أَفَحَسِبْتُمْ أَنَّمَا خَلَقْنَاكُمْ عَبَثًا وَأَنَّكُمْ إِلَيْنَا لَا تُرْجَعُونَ ﴾(٢)

---

(١) صحيح مسلم (كتاب الجنة وصفة نعيمها وأهلها، حديث٢٨٥٩).
(٢) المؤمنون (١١٥).

«آیا تاسې گمان کوی چې مونږ تاسې عبث او بې فایدې پیدا کړي یاست او بیا به مونږ ته نه راگرځئ؟» (یعنی داسې نه ده).

او خپل پیغمبر ﷺ ته فرمایي: ﴿ إِنَّ ٱلَّذِى فَرَضَ عَلَيۡكَ ٱلۡقُرۡءَانَ لَرَآدُّكَ إِلَىٰ مَعَادٍ ﴾[1] «بې شکه هغه ذات چې په تا باندې یې قرآن رانازل کړی دی هرومرو به تا د بیرته ستنیدو ځای ته ستنوي».

**دوهم: په حساب او بدله ورکولو باندې ایمان لرل:**

د بنده سره به دده د عمل محاسبه کیږي او د

(۱) القصص (۸۵).

هغې بدله به ورکول کیږي، او ددې خبرې دلیل قرآن او حدیث او د مسلمانانو اجماع ده.

الله تعالی فرمايي: ﴿ إِنَّ إِلَيۡنَآ إِيَابَهُمۡ ثُمَّ إِنَّ عَلَيۡنَا حِسَابَهُم ﴾[(١)] «بې شکه دوی به مونږ ته را واپس کیږي او بيا به مونږ له دوی سره حساب کوو».

او فرمايي: ﴿ مَن جَآءَ بِٱلۡحَسَنَةِ فَلَهُۥ عَشۡرُ أَمۡثَالِهَا ۖ وَمَن جَآءَ بِٱلسَّيِّئَةِ فَلَا يُجۡزَىٰٓ إِلَّا مِثۡلَهَا وَهُمۡ لَا يُظۡلَمُونَ ﴾[(٢)] «چا چې نيکي کړې وي نو هغه ته به يې لس برابره ثواب او بدله ورکول کیږي، او چاچې گناه کړې

---

(١) الغاشية (٢٥- ٢٦).
(٢) الأنعام (١٦٠).

وي نو د هغې برابر سزا به ورکول کیږي او ظلم به نه وربانديې کیږي».

او فرمايي: ﴿ وَنَضَعُ ٱلْمَوَٰزِينَ ٱلْقِسْطَ لِيَوْمِ ٱلْقِيَٰمَةِ فَلَا تُظْلَمُ نَفْسٌ شَيْـًٔا ۖ وَإِن كَانَ مِثْقَالَ حَبَّةٍ مِّنْ خَرْدَلٍ أَتَيْنَا بِهَا ۗ وَكَفَىٰ بِنَا حَٰسِبِينَ ﴾[١] «او د قیامت په ورځ به مونږ د عدل او انصاف تلې کیږدو نو په هیچا به هیڅ ظلم نه کیږي، او که (دچا عمل) د سپینلي د دانې په اندازه (هم) وي نو مونږ به یې راوړو، او مونږ کافي حساب کوونکي یو».

او له حضرت ابن عمر v څخه روایت دی

(١) الأنبياء (٤٧).

چي پيغمبر ﷺ فرمايلي دي: (إِنَّ اللهَ يُدْنِي الْمُؤْمِنَ فَيَضَعُ عَلَيْهِ كَنَفَهُ – أَيْ سِتْرَهُ – وَيَسْتُرُهُ فَيَقُوْلُ: أَتَعْرِفُ ذَنْبَ كَذَا؟ أَتَعْرِفُ ذَنْبَ كَذَا؟ فَيَقُوْلُ: نَعَمْ أَيْ رَبِّ، حَتَّى إِذَا أَقَرَّ بِذُنُوْبِهِ وَرَأَى أَنَّهُ قَدْ هَلَكَ قَالَ: قَدْ سَتَرْتُهَا عَلَيْكَ فِي الدُّنْيَا وَأَنَا أَغْفِرُهَا لَكَ الْيَوْمَ، فَيُعْطَى كِتَابُ حَسَنَاتِهِ، وَأَمَّا الْكُفَّارُ وَالْمُنَافِقُوْنَ فَيُنَادَى بِهِمْ عَلَى رُؤُوْسِ الْخَلَائِقِ: هؤُلَاءِ الَّذِيْنَ كَذَبُوْا عَلَى رَبِّهِمْ، أَلَا لَعْنَةُ اللهِ عَلَى الظَّالِمِيْنَ)[1] «الله تعالی به (د قیامت په ورځ) مؤمن رانږدې کړي او پرده به وربانديږ واچوي او ورته به ووايي: آيا فلانی

---

(۱) صحيح البخاري (كتاب المظالم والغصب، حديث۲٤٤١)، صحيح مسلم (كتاب التوبة، حديث۲۷٦۸).

گناه پيژنې؟ آيا هغه فلانی گناه پيژني؟ نو وبه وايي: هو ای پروردگاره، کله چي پخپلو گناهونو اقرار وکړي او گمان وکړي چي تباه شو نو الله به ورته ووايي: په دې گناهونو ما په دنيا کښې پرده اچولې وه او نن يې درته بخښم، نو د نيکيو عملنامه به ورکړل شي، او کفارو او منافقانو ته به د ټول مخلوق په وړاندې آواز وشي چي دا هغه کسان دي چي په خپل پروردگار يې دروغ ويل، خبردار د الله لعنت دې وي په ظالمانو باندې».

او له پيغمبرﷺ څخه په صحيح حديث کښې راغلي دي: (مَنْ هَمَّ بِحَسَنَةٍ فَعَمِلَهَا كَتَبَهَا اللهُ عِنْدَهُ عَشْرَ حَسَنَاتٍ إِلَى سَبْعِمِئِةِ ضِعْفٍ إِلَى أَضْعَافٍ كَثِيْرَةٍ، وَأَنَّ مَنْ

هَمَّ بِسَيِّئَةٍ فَعَمِلَهَا كَتَبَهَا اللهُ سَيِّئَةً وَاحِدَةً)[۱] «څوك چي د نيكۍ كولو قصد او اراده وكړي او بيا يې تر سره كړي نو الله تعالى به يې لس نيكۍ وليكي تر اوو سوو پورې بلكه تردې نه هم زيات، او څوك چي د گناه قصد وكړي او بيا يې وكړي نو الله تعالى به يې يوازې يوه گناه وليكي».

او مسلمانان په دې خبره اجماع او اتفاق لري چي حساب به كيږي او د اعمالو بدله به وركول كيږي، او دا د حكمت تقاضا هم ده، ځكه چي الله تعالى كتابونه را نازل كړي دي او پيغمبران يې را

(۱) صحيح البخاري (كتاب الرقاق، حديث۶٤۹۱)، صحيح مسلم (كتاب الإيمان، حديث۱۳۰، ۱۳۱، ۱۶۲).

استولي دي او په بندګانو يې دا فرض کړې ده چې هغه څه ومني چې هغوی راوړي دي او په هغه څه عمل وکړي چې عمل کول پرې واجب دي، او د هغې له مخالفینو سره يې جنګ (جهاد) کول فرض کړي دي، او د مخالفینو وینې اولادونه او بچې او ښځې او مالونه يې حلال او مباح ګرځولي دي، نو که چیرې حساب او محاسبه نه وي او د اعمالو بدله نه وي نو دا هرڅه به بې فایدې وي کوم چې باحکمته پروردګار له هغې څخه پاك دی.

او الله تعالی دې مطلب ته داسې اشاره فرمایلې ده: ﴿ فَلَنَسْـَٔلَنَّ ٱلَّذِينَ أُرْسِلَ إِلَيْهِمْ وَلَنَسْـَٔلَنَّ ٱلْمُرْسَلِينَ فَلَنَقُصَّنَّ عَلَيْهِم بِعِلْمٍ ۖ وَمَا كُنَّا غَآئِبِينَ ﴾[(١)] «مونږ به هرومرو له پیغمبرانو او هغو کسانو څخه پوښتنه کوو چې دوی ته مو وراستولي دي، او هرومرو به بیان کړو دوی ته په علم سره، او مونږ غائب نه وو».

**دریم: په جنت او دوزخ** او دې خبره **باندې ایمان لرل** چې ټول خلك به (په پای کښې) جنت یا دوزخ ته ځي او هلته به د تل لپاره پاتې کیږي.

---

(١) الأعراف (٦- ٧).

جنت د داسې نعمتونو ځای دی چې الله تعالی د هغو پرهیزګارو مؤمنانو لپاره تیار کړی دی چې پر هغه څه یې ایمان راوړی دی چې الله تعالی پرې ایمان راوړل فرض کړي دي، او د الله تعالی او د هغه د پیغمبر اطاعت یې په اخلاص اوپوره پیروئ او متابعت سره کړی دی.

په جنت کښې داسې ډول ډول نعمتونه دي چې نه سترګو لیدلي اونه غوږونو اوریدلي دي او نه د کوم انسان په زړه کښې تیر شوي دي.

الله تعالی فرمایي: ﴿ إِنَّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ أُوْلَٰٓئِكَ هُمۡ خَيۡرُ ٱلۡبَرِيَّةِ جَزَآؤُهُمۡ عِندَ رَبِّهِمۡ جَنَّٰتُ عَدۡنٖ تَجۡرِي مِن تَحۡتِهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُ خَٰلِدِينَ فِيهَآ أَبَدٗاۖ رَّضِيَ

ٱللَّهُ عَنۡهُمۡ وَرَضُواْ عَنۡهُۚ ذَٰلِكَ لِمَنۡ خَشِيَ رَبَّهُۥ ﴾(١) «بې شکه هغه کسان چې ايمان يې راوړی دی او نيك كارونه يې تر سره كړي دي بهترين د ټولو خلكو دي، د الله په وړاندې د دوی بدله او عوض د هميشنۍ استوګنې جنتونه دي چې تر هغې لاندې ويالې بهيږي، دوی به په هغې کښې هميشه وي، الله له دوی څخه او دوی له الله څخه راضي دي، دا د هغه چا لپاره دي چې له الله څخه ويريدلي وي».

او فرمايي: ﴿ فَلَا تَعۡلَمُ نَفۡسٞ مَّآ أُخۡفِيَ لَهُم مِّن قُرَّةِ أَعۡيُنٖ جَزَآءَۢ بِمَا كَانُواْ يَعۡمَلُونَ ﴾(٢) «هيچا ته هغه نعمتونه

(١) البينة (٧- ٨).
(٢) السجدة (١٧).

معلوم نه دي چي ددوی لپاره پټ ساتل شوي دي چي (له ډیرې خوشحالۍ) سترګې پرې یخیږي، دا ددوی د هغو (نیکو) عملونو عوض او بدله ده چي دوی به په دنیا کښې کول».

او دوزخ دعذاب هغه ځای دی چي الله تعالی د هغو ظالمو کافرانو لپاره تیار کړی دی چي لـه الله څخه یې انکار کړی دی او د هغه د پیغمبر نافرماني یې کړې ده، په هغې کښې به داسې ډول ډول عذاب او سزا وي چي د چا پـه خوا او خـاطر کښـې بـه نـه وي.

الله تعالى فرمايي: ﴿ وَٱتَّقُواْ ٱلنَّارَ ٱلَّتِىٓ أُعِدَّتۡ لِلۡكَـٰفِرِينَ ﴾[(١)] «او له هغه اور څخه وويريږئ چي د كافرانو لپاره تيار شوى دى».

او فرمايي: ﴿ وَقُلِ ٱلۡحَقُّ مِن رَّبِّكُمۡۖ فَمَن شَآءَ فَلۡيُؤۡمِن وَمَن شَآءَ فَلۡيَكۡفُرۡۚ إِنَّآ أَعۡتَدۡنَا لِلظَّـٰلِمِينَ نَارًا أَحَاطَ بِهِمۡ سُرَادِقُهَاۚ وَإِن يَسۡتَغِيثُواْ يُغَاثُواْ بِمَآءٍ كَٱلۡمُهۡلِ يَشۡوِى ٱلۡوُجُوهَۚ بِئۡسَ ٱلشَّرَابُ وَسَآءَتۡ مُرۡتَفَقًا ﴾[(٢)] «او وايه (اى پيغمبره) چي حق ستا د پروردگار له لوري دى، نو چي د چا خوښه وي ايمان دې راوړي او چي د چا خوښه وي كافر دې شي، خو بې شكه

(١) آل عمران (١٣١).
(٢) الكهف (٢٩).

مونږ د ظالمانو لپاره داسې اور تیار کړی دی چې د هغې پردې به په دوی چاپیره وي او که فریاد وکړي او مرسته وغواړي نو داسې اوبه به ورکړل شي لکه زوې چې مخونه وریتوي، دا د ښنلو بد ځیز دی او دوزخ د اوسیدلو بد ځای دی».

او فرمایي: ﴿ إِنَّ ٱللَّهَ لَعَنَ ٱلۡكَٰفِرِينَ وَأَعَدَّ لَهُمۡ سَعِيرًا خَٰلِدِينَ فِيهَآ أَبَدٗاۖ لَّا يَجِدُونَ وَلِيّٗا وَلَا نَصِيرٗا يَوۡمَ تُقَلَّبُ وُجُوهُهُمۡ فِي ٱلنَّارِ يَقُولُونَ يَٰلَيۡتَنَآ أَطَعۡنَا ٱللَّهَ وَأَطَعۡنَا ٱلرَّسُولَا ﴾[1] «بې شکه الله تعالی کافران رټلي دي او دوی ته یې دوزخ تیار کړی دی په هغې کښې به همیشه وي، نه

(١) الأحزاب (٦٤- ٦٦).

به کوم دوست مومي او نه مرستندوی او مددگار، هغه ورځ چي د دوی مخونه به په اور کښې چورلول کیږي او دوی به وایي: کاش مونږ د الله او د پیغمبر اطاعت کړی وای».

**او د آخرت په ورځ باندې ایمان پر هر هغه څه باندې ایمان لرلو ته شامل دی چي له مرگ څخه وروسته وي، لکه:**

**( أ ) دقبر امتحان:**

او هغه د مړي له خاورو ته سپارلو څخه وروسته دده د پروردگار دین او پیغمبر په هکله پوښتنې دي چي ورڅخه کیږي، نو الله تعالی مؤمنان په ثابته وینا ثابت قدمه کوي او (په ځواب

کښېږ) وايي: زما پروردګار الله او دين مې اسلام او پيغمبر مې محمد ﷺ دی، او ظالمان ګمراه کوي نو (همدا وجه ده چې) کافر (په ځواب کښې) وايي: ها ها خبر نه یم، او منافق یا شك کوونکی وایي: خبر نه يم ما له خلکو څخه واوریدل چې يو څه يې ويل نو ما هم وويل.

**(ب) د قبر عذاب اونعمت:**

**(د قبر عذاب)** به دظالمو کافرانو او منافقانو په برخه وي، الله تعالى فرمايي: ﴿ وَلَوْ تَرَىٰٓ إِذِ ٱلظَّٰلِمُونَ فِي غَمَرَٰتِ ٱلْمَوْتِ وَٱلْمَلَٰٓئِكَةُ بَاسِطُوٓاْ أَيْدِيهِمْ

أَخۡرِجُوٓاْ أَنفُسَكُمُۖ ٱلۡيَوۡمَ تُجۡزَوۡنَ عَذَابَ ٱلۡهُونِ بِمَا كُنتُمۡ تَقُولُونَ عَلَى ٱللَّهِ غَيۡرَ ٱلۡحَقِّ وَكُنتُمۡ عَنۡ ءَايَٰتِهِۦ تَسۡتَكۡبِرُونَ ﴾[١]

«او که چیرې ته ظالمان هغه وخت ووینې چې د مرگ په سختیو کښې وي او (دعذاب) پرښتو خپل لاسونه (ددوی د روح اخیستو لپاره) غځولي وي (او دوی ته وایي:) خپل ارواح راوباسئ، نن به تاسې ته د سپکوونکي عذاب سزا له دې کبله درکول کیږي چې د الله په هکله مو ناحقه وینا او خبرې کولې او د هغه له آیاتونو څخه مو سرغړونه او ځان لویي کوله».

(١) الأنعام (٩٣).

او د فرعون د آل په هکله فرمايي: ﴿ ٱلنَّارُ يُعۡرَضُونَ عَلَيۡهَا غُدُوّٗا وَعَشِيّٗاۖ وَيَوۡمَ تَقُومُ ٱلسَّاعَةُ أَدۡخِلُوٓاْ ءَالَ فِرۡعَوۡنَ أَشَدَّ ٱلۡعَذَابِ ﴾(۱) «دوی سبا او بیگاه د (دوزخ) اور ته پيش کيږي، او کله چي قيامت شي (نو وبه ويل شي) د فرعون آل سخت عذاب ته ننه باسئ».

او په صحيح مسلم کښي لـه حضرت زيد بن ثابت ﷺ څخـه روايت دی چي پيغمبر ﷺ فرمـايلي دي: (فَلَوْلاَ أَنْ لاَّ تَدَافَنُوْا لَدَعَوْتُ اللهَ أَنْ يُّسْمِعَكُمْ مِّنْ عَذَابِ الْقَبْرِ الَّذِيْ أَسْمَعَ مِنْهُ، ثُمَّ أَقْبَلَ بِوَجْهِهِ فَقَالَ: تَعَوَّذُوْا

(۱) غافر (٤٦).

بِاللهِ مِنْ عَذَابِ النَّارِ، قَالُوْا: نَعُوْذُ بِاللهِ مِنْ عَذَابِ النَّارِ، فَقَالَ: تَعَوَّذُوْا بِاللهِ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ، قَالُوْا: نَعُوْذُ بِاللهِ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ، قَالَ: تَعَوَّذُوْا بِاللهِ مِنَ الْفِتَنِ مَا ظَهَرَ مِنْهَا وَمَا بَطَنَ، قَالُوْا: نَعُوْذُ بِاللهِ مِنَ الْفِتَنِ مَا ظَهَرَ مِنْهَا وَمَا بَطَنَ، قَالَ: تَعَوَّذُوْا بِاللهِ مِنْ فِتْنَةِ الدَّجَّالِ، قَالُوْا: نَعُوْذُ بِاللهِ مِنْ فِتْنَةِ الدَّجَّالِ)[1] «که دا ويره راسره نه وای چي تاسې به مړي ښخول پرېښودئ نوما به له الله څخه دا دعا غوښتې وه چي تاسې ته د قبر هغه عذاب درواوروي چي زه يې اورم، بيا يې مخ راواړاوه او

(١) صحيح مسلم (كتاب الجنة وصفة نعيمها وأهلها، حديث٢٨٦٧).

ويـې فرمايـل: لـه الله نـه د قبـر لـه عـذاب څخـه پنـاه وغواړئ، دوی وويل: له الله نه دقبر له عذاب څخه پناه غواړو، بيا يې وفرمايل: الله ته له ټولو ښکاره او پټو فتنو څخه پناه وروړئ، دوی وويل: لـه الله څخه له ټولو پټو او ښکاره فتنو نه پناه غواړو، بيا يـې وفرمايـل: لـه الله څخـه د دجـال لـه فتنـې پنـاه وغواړئ، دوی وويل: الله تـه د دجـال لـه فتنـې څخـه پناه وروړو».

**(د قبر نعمت)** د قبر نعمتونه به د صادقو مؤمنانو نصيب کيږي، الله تعالى فرمايي: ﴿ إِنَّ ٱلَّذِينَ قَالُواْ رَبُّنَا ٱللَّهُ ثُمَّ ٱسۡتَقَٰمُواْ تَتَنَزَّلُ عَلَيۡهِمُ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ أَلَّا تَخَافُواْ وَلَا تَحۡزَنُواْ وَأَبۡشِرُواْ بِٱلۡجَنَّةِ ٱلَّتِي كُنتُمۡ

تُوعَدُونَ ﴾[1] «بې شکه هغه کسان چې ويلي يې دي چې زمونږ پروردگار الله تعالی دی او بيا يې استقامت اختيار کړی دی پر دوی به پرښتې نازليږي (او ورته به وايي) مه ويريږئ او مه خفه کيږئ او د هغه جنت زيری ترلاسه کړئ چې له تاسې سره به يې وعده کيدله».

او فرمايي: ﴿ فَلَوْلَآ إِذَا بَلَغَتِ ٱلْحُلْقُومَ وَأَنتُمْ حِينَئِذٍ تَنظُرُونَ وَنَحْنُ أَقْرَبُ إِلَيْهِ مِنكُمْ وَلَـٰكِن لَّا تُبْصِرُونَ فَلَوْلَآ إِن كُنتُمْ غَيْرَ مَدِينِينَ تَرْجِعُونَهَآ إِن كُنتُمْ صَـٰدِقِينَ فَأَمَّآ إِن كَانَ مِنَ ٱلْمُقَرَّبِينَ فَرَوْحٌ وَرَيْحَانٌ وَجَنَّتُ نَعِيمٍ ﴾[2] دسورت تر پای

(۱) فصلت (۳۰).
(۲) الواقعة (۸۳- ۸۹).

پورې. «نو ولې هغه وخت چې ساه ستوني ته راورسیږي (واپس یې نه راګرځوي) او حال دا چې تاسې په دغه وخت کښې ورته ګورئ، او مونږ هغه ته له تاسې ځخه ډیر ورنږدې یو خو تاسې نه وینئ، نو که چیرې تاسې ته (ستاسې دکړنو) سزا نه درکول کیږي نو بیا ولې دا روح (ساه) بیرته نه راګرځوئ که رښتیني یاست؟ که (دا مړی الله ته) له مقرَّبینو ځخه وو نو هوسایي او ښه روزي او د نعمتونو جنت به یې نصیب شي».

اوله حضرت براء بن عازب ﷺ ځخه روایت دی چې پیغمبر ﷺ د مؤمن په هکله وفرمایل: کله چې پرښتو ته په قبر کښې ځواب ووایي نو (يُنَـــادِيْ

مُنَادٍ مِّنَ السَّمَاءِ: أَنْ صَدَقَ عَبْدِيْ فَأَفْرِشُوْهُ مِـــنَ الْجَنَّـــةِ وَأَلْبِسُوْهُ مِنَ الْجَنَّةِ وَافْتَحُوْا لَهُ بَاباً إِلَى الْجَنَّةِ، قَالَ: فَيَأْتِيْـــهِ مِنْ رَّوْحِهَا وَطِيْبِهَا وَيُفْسَحُ لَهُ فِيْ قَبْرِهِ مَدَّ بَصَـــرِهِ)[(۱)]، دا حدیث امام احمد او ابو داود دیوه اوږده حدیث په ترڅ کښې روایت کړی دی (او ترجمه یې دا ده): «یو آواز کوونکئ به له آسمان څخه آواز وکړي چي زما بنده رښتیا وویل: نو له جنت څخه فرش ورته واچوئ او له جنت څخه لباس وروا غوندئ او د جنت لوري ته یوه دروازه ورته پرانیزئ، نو د

(۱) سنن أبي داود (كتاب السنة، حديث۴۷۵۳)، مسند الإمام أحمد (۲۸۷/۴).

هغې شَمال او خوشبويي به ورته راځي، او قبر به يې دده دسترګو د ديد او نظر په اندازه ورته پراخه کړل شي».

**او د آخرت په ورځ باندې ايمان ډيرې فايدې لري چي د هغې له جملې څخه يو څه دا دي:**

**لمړی**: د هغې ورځې دثواب په هيله په شوق او رغبت او پوره پاملرني سره طاعت او عبادت کول.

**دوهم**: د هغې ورځې د سزا له ويرې له ګناه کولو او په هغې له خوښې څخه ويره (او ډه ډه) کول.

**دريم**: د آخرت د نعمتونو او ثواب اميد او

هیله مؤمن ته د دنیا د هغه څه په بدل کښې چې ور څخه پاتې دي ډاډ او تسلا ورکوي.

**او کفارلــه مــرگ څخــه وروســته د بیــا را ژوندي کیدو څخه منکر دي** او په دې عقیده دي چې دا کار ممکن نه دی.

**او دا گمان غلط دی، شرع او محسوسات او عقـل (دری واړه) د هغـې پـه بطـلان بانـدې دلالـت کوي.**

**شرعي (دليل):**

الله تعـــالی فرمـــایي: ﴿ زَعَمَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓاْ أَن لَّن يُبۡعَثُواْۚ قُلۡ بَلَىٰ وَرَبِّى لَتُبۡعَثُنَّ ثُمَّ لَتُنَبَّؤُنَّ بِمَا عَمِلۡتُمۡۚ وَذَٰلِكَ عَلَى

ٱللَّهِ يَسِيرٌ﴾[1] «کفار (دا غلط) گمان کوي چي هیڅکله به بیا راژوندي نه کړل شي، ووایه (ای پیغمبره) داسې نه ده، زما په پروردگار قسم هرو مرو به بیا راژوندي کیږئ، او دا کار الله تعالی ته آسانه دی».

او په دې مسئله کښې ټول آسماني کتابونه متفق دي.

**د محسوساتو (دلیل):**

الله تعالی په دې دنیا کښې خپلو بنده گانو ته د مړي راژوندي کول ور لیدلي دي، او (یوازې) په سورت بقره کښې د دې پنځه مثالونه شته، چي هغه

---

(۱) التغابن (۷).

دادي:

**لمړئ مثال:** د موسی ﷺ قوم چي کله ده ته وویل : تر هغه پورې به په تا باندې ایمان را نه وړو تر څو چي الله په څرګنده ووینو، نو الله تعالی دوی مړه کړل او بیا یې بیرته راژوندي کړل.

الله تعالی په دې هکله بني اسرائیلو ته په خطاب کښې فرمایي: ﴿ وَإِذۡ قُلۡتُمۡ يَٰمُوسَىٰ لَن نُّؤۡمِنَ لَكَ حَتَّىٰ نَرَى ٱللَّهَ جَهۡرَةٗ فَأَخَذَتۡكُمُ ٱلصَّٰعِقَةُ وَأَنتُمۡ تَنظُرُونَ ثُمَّ بَعَثۡنَٰكُم مِّنۢ بَعۡدِ مَوۡتِكُمۡ لَعَلَّكُمۡ تَشۡكُرُونَ ﴾[1] «او هغه وخت (را یاد کړئ) چي تاسې وویل: ای موسی

(۱) البقرة (۵۵- ۵٦).

ترڅو چي الله ښکاره ونه وينو له سره به ستا په خبره باور ونکړو، نو تاسې تندر ونيولئ، په داسې حال کښې چي تاسې کتل، بيا مو له مرګ څخه وروسته واپس راژوندي کړئ چي ګوندي شکر وباسئ».

**دوهم مثـال:** د هغه وژل شوي کس قيصه ده چي بني اسرائيلو يې (دقاتل په هکله) په اختلاف لاس پورې کړ، نو الله تعالى دوى ته امر وکړ چي يوه غوا ذبح کړئ او د هغې په يوه برخه يې ووهئ (چه راژوندى شي) او بيا خپل قاتل (چا چي وژلى دى) دوى ته وښايي.

په دې هکله الله تعالى فرمايي: ﴿ وَإِذۡ قَتَلۡتُمۡ نَفۡسًا

فَٱدَّٰرَءۡتُمۡ فِيهَاۖ وَٱللَّهُ مُخۡرِجٞ مَّا كُنتُمۡ تَكۡتُمُونَ فَقُلۡنَا ٱضۡرِبُوهُ بِبَعۡضِهَاۚ كَذَٰلِكَ يُحۡيِ ٱللَّهُ ٱلۡمَوۡتَىٰ وَيُرِيكُمۡ ءَايَٰتِهِۦ لَعَلَّكُمۡ تَعۡقِلُونَ ﴾(۱) «او هغه (وخت را ياد کړى) چي يو کس مو وواژه او بيا مو د هغې په هکله په جګړه او اختلاف لاس پورې کړ، او الله د هغه څه ښکاره کوونکی دی چي تاسې پټول، نو بيا مونږ وويل چي دغه مړی (د غوا) په يوه ټوټه ووهئ، همدا راز الله تعالی مړی راژوندی کوي او تاسې ته د (خپل قدرت) نښې ښايي ترڅو چې تاسې وپوهيږئ).

**دريم مثال**: د هغه په زرګونو قوم قيصه ده

(۱) البقرة (۷۲- ۷۳).

چي له خپلو کورونو څخه د مرګ له ویرې په تیښته ووتـل او الله تعـالی مـړه کـړل او بیـایې راژونـدي کړل.

په دې باره کښې الله تعالی فرمايي: ﴿ أَلَمْ تَرَ إِلَى ٱلَّذِينَ خَرَجُواْ مِن دِيَـٰرِهِمْ وَهُمْ أُلُوفٌ حَذَرَ ٱلْمَوْتِ فَقَالَ لَهُمُ ٱللَّهُ مُوتُواْ ثُمَّ أَحْيَـٰهُمْ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ لَذُو فَضْلٍ عَلَى ٱلنَّاسِ وَلَـٰكِنَّ أَكْثَرَ ٱلنَّاسِ لَا يَشْكُرُونَ ﴾[(١)] «آیا هغو زرګونو کسانو ته مو ونه کتل چي د مرګ له ویرې له خپلو کورونو څخه ووتل، نو الله امر ورته وکړ چي مړه شئ، او بیا یې ټول بیرته راژوندي کړل،

---

(١) البقرة (٢٤٣).

بې شکه الله په خلکو باندې فضل او احسان کوونکی دی خو ډیر خلك شکر نه پر ځای کوي».

**څلورم مثال**: د هغه سړي قیصه ده چي په یوه مړه کلي باندې تیر شو او دا خبره ورته بعیده او لیرې ښکاره شوه چي الله به دا کلی بیا راژوندی کوي، نو الله دی د سلو کالو په مخه مړ کړ او بیا یې راژوندی کړ.

په دې باره کښې الله تعالی فرمایي: ﴿أَوْ كَٱلَّذِى مَرَّ عَلَىٰ قَرْيَةٍ وَهِىَ خَاوِيَةٌ عَلَىٰ عُرُوشِهَا قَالَ أَنَّىٰ يُحْىِۦ هَٰذِهِ ٱللَّهُ بَعْدَ مَوْتِهَا ۖ فَأَمَاتَهُ ٱللَّهُ مِاْئَةَ عَامٍ ثُمَّ بَعَثَهُۥ ۖ قَالَ كَمْ لَبِثْتَ ۖ قَالَ لَبِثْتُ يَوْمًا أَوْ بَعْضَ يَوْمٍ ۖ قَالَ بَل لَّبِثْتَ مِاْئَةَ عَامٍ فَٱنظُرْ إِلَىٰ طَعَامِكَ وَشَرَابِكَ لَمْ يَتَسَنَّهْ ۖ وَٱنظُرْ إِلَىٰ حِمَارِكَ

وَلِنَجْعَلَكَ ءَايَةً لِّلنَّاسِۖ وَٱنظُرۡ إِلَى ٱلۡعِظَامِ كَيۡفَ نُنشِزُهَا ثُمَّ نَكۡسُوهَا لَحۡمٗاۚ فَلَمَّا تَبَيَّنَ لَهُۥ قَالَ أَعۡلَمُ أَنَّ ٱللَّهَ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٞ ﴾[١] «یا د هغه سړي په شان چي په یوه وران او نړیدلي کلي باندې تیریده نو ویې ویل چي ددې کلي (اوسیدونکي) به الله له مرګ څخه وروسته څنګه راژوندي کوي؟ نو الله دی دسلوکالو په مخه مړ کړ او بیا یې راژوندی کړ او پوښتنه یې ورڅخه وکړه چي څومره وخت دې تیر کړ؟ ده (په ځواب کښي) وویل: یوه ورځ یا د ورځي څه برخه، الله ورته وفرمایل: بلکه تا سل کاله تیر کړي دي، او

---

(١) البقرة (٢٥٩).

وگوره خپل خوراك او څښاك ته چي څه بدلون په کښي نه دی راغلی، او خره ته دې وګوره (چه هډوکي دی) اودا ددې لپاره چي د خلکو لپاره دې نښانه وگرځوم، او هډوکو ته وگوره چي څنگه یې راخوځوو او بیا غوښه وراغوندو، چي کله دا حال ورته څرگند شو نو ویې ویل: زه پوهیږم چي بې شکه الله پر هرڅه قدرت لري».

**پنځم مثال**: د ابراهیم الخلیل ﷺ قیصه ده، چي کله یې له الله تعالی څخه وغوښتل چي دا ورته وښایي چي مړی څنگه راژوندی کوي، نو الله تعالی امر ورته وکړ چي څلور مرغان ذبح کړي او ټوټې یې په شاوخوا غرونو تقسیم کړي (وویشي) او بیا

آواز ورته وکړي نو دا ټوټې به له یوبل سره یوځای شي او ابراهیم ﷺ ته به په منډه راشي، په دې باره کښې الله تعالی فرمايي: ﴿ وَإِذۡ قَالَ إِبۡرَٰهِـۧمُ رَبِّ أَرِنِي كَيۡفَ تُحۡيِ ٱلۡمَوۡتَىٰۖ قَالَ أَوَلَمۡ تُؤۡمِنۖ قَالَ بَلَىٰ وَلَٰكِن لِّيَطۡمَئِنَّ قَلۡبِيۖ قَالَ فَخُذۡ أَرۡبَعَةٗ مِّنَ ٱلطَّيۡرِ فَصُرۡهُنَّ إِلَيۡكَ ثُمَّ ٱجۡعَلۡ عَلَىٰ كُلِّ جَبَلٖ مِّنۡهُنَّ جُزۡءٗا ثُمَّ ٱدۡعُهُنَّ يَأۡتِينَكَ سَعۡيٗاۚ وَٱعۡلَمۡ أَنَّ ٱللَّهَ عَزِيزٌ حَكِيمٞ ﴾(۱) «او هغه وخت (رایاد کړه) چې ابراهیم ﷺ وویل ای زما پروردګاره ما ته وښایه چې مړی څنګه راژوندی کوې؟ الله ورته وفرمایل: آیا باورنه لرې؟ ده عرض وکړ: ولې نه

(۱) البقرة (۲٦۰).

خو ددې لپاره چې زړه مې ډاډه شي، (الله ورته) وویل: نو څلور مرغان ونیسه او بیا یې ځان ته رانږدې کړه، او بیا په هر غره باندې د دوی یوه یوه ټوټه کیږده او بیا یې راوبوله نو دوی به په منډه درته راشي، او په دې پوه شه چې الله غالب ذات او د حکمت څښتن دی».

نو دا محسوس مثالونه دي چې واقع شوي دي او د مړو د را ژوندي کولو په امکان باندې دلالت کوي.

او مخکې د عیسی ﷺ هغو معجزو ته اشاره وشوه چې الله تعالی ورکړې وې، چې دده په حکم او اجازې سره به یې مړي را ژوندي کول او له

قبرونو څخه را ايستل.

**او عقلي دليل دوه اړخه لري:**

**لمړی**: دا چي الله تعالی د آسمانونو او ځمکې او هغه څه چي په آسمانونو او ځمکه کښې دي پيداكوونكئ دی، او څوك چي د يو شي د لمړي ځل لپاره دپيدا كولو قدرت لري د هغې د بيا پيدا كولو توان هم لري، الله تعالی فرمايي: ﴿ وَهُوَ ٱلَّذِى يَبۡدَؤُاْ ٱلۡخَلۡقَ ثُمَّ يُعِيدُهُۥ وَهُوَ أَهۡوَنُ عَلَيۡهِ ﴾[1] «او الله هغه ذات دی چي پيداكول پيل كوي او بيا يې هم تر سره كوي (او دا دوهم ځل) ورته ډير آسانه دي».

---

(١) الروم (٢٧).

او فرمايي: ﴿ كَمَا بَدَأْنَآ أَوَّلَ خَلْقٍ نُّعِيدُهُۥ ۚ وَعْدًا عَلَيْنَآ ۚ إِنَّا كُنَّا فَٰعِلِينَ ﴾[١] «په هماغه توګه چي مو لمړی پيدايښت پيل کړ بيا پيدا کول کوو، دا زمونږ ژمنه او وعده ده، او هرو مرو داسې کوونکي يو».

او پر هغه چا- چي د ورَستو هډوکيو له بيا را ژوندي کولو څخه منکر دي- د رد کولو په ترڅ کښې فرمايي: ﴿ قُلْ يُحْيِيهَا ٱلَّذِىٓ أَنشَأَهَآ أَوَّلَ مَرَّةٍ ۖ وَهُوَ بِكُلِّ خَلْقٍ عَلِيمٌ ﴾[٢] «ووايه (ای پيغمبره) هغه ذات به يې را ژوندی کوي چي لمړی ځل يې پيدا کړل، او هغه ذات په هر ډول پيدايښت ښه علم لري».

(١) الأنبياء (١٠٤).
(٢) يس (٧٩).

**دوهم**: دا چي ځمکه مړه او شاړه وي هيڅ شنه ونه په کښې نه وي، بيا باران وربانډې وشي نو ژوندی او زرغونه (شنه) او آباده شي او هر ډول شنه په کښې وي، او هغه ذات چي د مړې ځمکې د راژوندي کولو قدرت لري په دې قادر دی چي مړی بيا را ژوندی کړي.

الله تعالی فرمايي: ﴿ وَمِنْ ءَايَـٰتِهِۦٓ أَنَّكَ تَرَى ٱلْأَرْضَ خَـٰشِعَةً فَإِذَآ أَنزَلْنَا عَلَيْهَا ٱلْمَآءَ ٱهْتَزَّتْ وَرَبَتْ ۚ إِنَّ ٱلَّذِىٓ أَحْيَاهَا لَمُحْىِ ٱلْمَوْتَىٰٓ ۚ إِنَّهُۥ عَلَىٰ كُلِّ شَىْءٍ قَدِيرٌ ﴾[١] «او د هغه (يعنی الله) د (قدرت) له نښانو (دلائلو)

---

(١) فصلت (٣٩).

څخه دا (هم) دي چي ته ځمکه وچه کلکه ويني، خو چي کله مونږ (دباران) اوبه پرې را ښکته کړو نو وخوځيږي او وپړسيږي، بې شکه هغه ذات چي دا ځمکه يي ژوندی (زرغونه) کړې ده هرومرو د مړو را ژوندی کوونکی دی، بې شکه هغه پر هر څه قدرت لري».

او فرمايي: ﴿ وَنَزَّلْنَا مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءً مُّبَٰرَكًا فَأَنۢبَتْنَا بِهِۦ جَنَّٰتٍ وَحَبَّ ٱلْحَصِيدِ وَٱلنَّخْلَ بَاسِقَٰتٍ لَّهَا طَلْعٌ نَّضِيدٌ رِّزْقًا لِّلْعِبَادِ ۖ وَأَحْيَيْنَا بِهِۦ بَلْدَةً مَّيْتًا ۚ كَذَٰلِكَ ٱلْخُرُوجُ ﴾[١] «او له آسمان څخه مو برکتناکې اوبه را ښکته کړې، او

(١) ق (٩- ١١).

په هغې سره مو باغونه او د ریبلو داني او د خرما (کجورو) جگې جگې ونې چي گڼ وږي لري را زرغون کړي دي چي د بندگانو لپاره روزي وي، او په هغې سره مو مړ (وچ) ښار را ژوندی کړ، او (له مرگ څخه وروسته له قبرونو نه) راوتل به هم دا ډول وي».

**او یوه ډله خلك چه د گمراهی په لار روان دي د قبر له عذاب او نعمت څخه منکر دي**، او په دې غلطه عقیده او گمان دي چي دا کار ممکن نه دی ځکه چي واقعیت ددې خلاف دی، دوی وایي: که په قبر کښي مړی لوڅ کړای شي نو هماغسي به وي لکه څنگه چي وو او قبر به هم هیڅ ډول تنگ

شوی یا پراخه شوی نه وي.

**او دا گمان په شرعي او حسي او عقلي دلائلو سره باطل دی:**

**شرعي دليل:** په همدې (فصل) - د آخرت پر ورځ باندې ایمان - کښې د (ب) حرف تر عنوان لاندې د هغو آیاتونو او احادیثو ذکر وشو چې د قبر د عذاب او نعمتونو په ثبوت باندې دلالت کوي.

او په صحیح البخاري کښې د ابن عباسv حدیث دی، فرمايي: (مَرَّ النَّبِيُّ ﷺ بِحَائِطٍ مِّنْ حِيْطَانِ الْمَدِيْنَةِ أَوْ مَكَّةَ، فَسَمِعَ صَوْتَ إِنْسَانَيْنِ يُعَذَّبَانِ فِيْ

قُبُوْرِهُمَا)[1] «پیغمبر ﷺ په مدینه یا مکه کښې له یو باغ سره تیریدو چې د دوو انسانانو آواز یې واورید چې په قبر کښې عذاب ورکول کیدو» او حدیث یې ذکر کړ، او په دې حدیث کښې راغلي دي چې: (إِنَّ أَحَدَهُمَا كَانَ لاَ يَسْتَتِرُ مِنَ الْبَوْلِ) [یعني] «ددوی دواړو څخه یو کس به له متیازو څخه ځان نه ژغوره»، او په بل روایت کښې دي چې (مِنْ بَوْلِهِ) [یعني] «له خپلو متیازو څخه به یې ځان نه ژغوره»، [او بیا فرمایي:] (وَأَنَّ الْآخَرَ كَانَ يَمْشِيْ بِالنَّمِيْمَةِ) [یعني] «او

(۱) صحيح البخاري (كتاب الوضوء، حديث۲۱٦، كتاب الأدب، حديث٦٠٥٥).

بل کس به چغل خوري کوله».

**د محسوساتو دلیل:** (دمثال په توګه) یو (انسان) په خوب کښې ويني چې په یو پراخه او شنه ځای کښې وي چې د خوښۍ احساس په کښې کوي، او یا دا چې په داسې تنګ او د ویرې په ځای کښې وي چې ور ځخه په درد او تکلیف وي، او کله به د لیدلي خوب په وجه راویښیږي او له دې سره به هغه په خپله کوټه او بستره کښې په هماغه خپل حال وي.

او خوب د مرګ ورور دی، او په همدې وجه الله تعالی ورته وفات ویلی دی، فرمایي: ﴿ ٱللَّهُ يَتَوَفَّى ٱلۡأَنفُسَ حِينَ مَوۡتِهَا وَٱلَّتِي لَمۡ تَمُتۡ فِي مَنَامِهَاۖ فَيُمۡسِكُ ٱلَّتِي

قَضَىٰ عَلَيۡهَا ٱلۡمَوۡتَ وَيُرۡسِلُ ٱلۡأُخۡرَىٰٓ إِلَىٰٓ أَجَلٖ مُّسَمًّى ﴾[1]

«الله د مرگ په وخت ارواح قبض کوي او (هم) د خوب په وخت هغه روح قبض کوي چي لا مړ نه وي، نو هغه روح ساتي چي د مرگ فیصله یې کړې وي او دا بل روح (چي د خوب په وخت یې قبض کړی وي او د مرگ فیصله یې لانه وي شوې) تر یوې ټاکلې مودې پورې واپس کوي».

**عقلي دلیل**: ویده (انسان کله کله) داسې ربښتیا خوب گوري چي بالکل د واقعیت مطابق وي او کیدای شي پیغمبرﷺ د هغه د صفاتو مطابق (په

(۱) الزمر (٤۲).

خوب كښي) وګوري او څوك چي پيغمبر ﷺ د هغه د صفاتو مطابق (په خوب كښي) وګوري نو هغه پيغمبر ﷺ په رښتيا سره كتلى دى، او ددې باوجود ويده (كس) پخپله كوټه كښې پخپله بستره كښې له هغه څه نه ليرې (پروت) وي چي (په خوب كښې) يې ليدلي وي.

نو كله چي دا شي د دنيا په حالاتو كښې ممكن دى نو آيا د آخرت په حالاتو كښې به ممكن نه وي؟

**او دا چي د خپل دې غلط ګمان او عقيدې لپاره دا دليل نيسي** چي كه مړى په قبر كښې را لوڅ كړاى شي نو هماغسى به وي لكه چي وو او قبر به هيڅ ډول پراخه شوى او تنګ شوى نه وي،

**نو د هغې ځواب څو اړخه لري:**

**لمړی**: دا چې په دې ډول باطلو شبهو د شریعت مخالفت او مقابله ناروا ده، ځکه که مخالف په صحیح توګه هغه څه ته ځیر شي چې شریعت راوړي دي نو پوه به شي چې دا شبهې باطلې دي، او (شاعر) وایي:

وَكَمْ مِّنْ عَائِبٍ قَوْلاً صَحِيْحاً

وَآفَتُهُ مِنَ الْفَهْـــمِ السَّقِيْـــمِ

«ډیر ځله به یو څوك صحیح وینا ته بد وایي او مشکل به دده په ناروغه پوهه کښې وي» (یعنی وینا به صحیح وي خو دده فهم به مریض او غلط وي، نو صحیح وینا به غلطه ورته ښکاري).

**دوهم:** د قبر حالات د غيبو له جملې څخه دي چې په حواسو سره يې ادراك نه کيږي، او که د حواسو له لارې پرې څوك پوهيدای نو بيا به په غيبو د ايمان فايده نه وه، او په دې مسئله کښې به په غيبو باندې ايمان لرونکي او منکران برابر وو.

**دريم:** د قبر عذاب او نعمت او د هغې پراخوالی او تنگوالی يوازې مړی احساسوي بل څوك پرې نه پوهيږي.

او ددې مثال داسې دی لکه ويده (انسان) چې په خوب کښې ويني چې په تنگ او د ويرې په ځای کښې وي او يا په پراخه شنه ځای کښې وي او بل څوك دده دا حالت نه احساسوي، ځکه دی خو پخپله

کوټه کښې پخپله بستره کښې پروت وي.

پیغمبر ﷺ ته به په داسې حال کښې وحې کیدله چې د خپلو ملګرو په منځ کښې به وو، ده به د وحي آواز اوریدو او ملګرو به یې نه اورید، او کله به پرښته د سړي په شکل کښې ورته څرګنده شوه او خبرې به یې ورسره وکړې، او صحابه وو ﷺ به نه پرښته لیدله او نه به یې خبرې اوریدلې.

**څلورم**: الله تعالی مخلوقاتو ته یوه خاصه اندازه ادراك ورکړی دی او دا ممکنه نه ده چې دوی هر څه ووینې.

(دمثال په توګه) اوه آسمانونه او ځمکه او په هغې کښې چې څه دي بلکه ټول شیان په حقیقي

توگـه د الله تعـالی تسـبيح وايـي، او الله تعـالی چـي وغـواړي پـه خپلـو مخلوقـاتو کښـي چاتـه کلـه کلـه (دهغـي تسـبيح) ورآوروي، او ددې سره دا هـر څـه زمونږ څخه پټ دي.

او په دې باره کښې الله تعالی فرمايي: ﴿ تُسَبِّحُ لَهُ ٱلسَّمَٰوَٰتُ ٱلسَّبۡعُ وَٱلۡأَرۡضُ وَمَن فِيهِنَّۚ وَإِن مِّن شَيۡءٍ إِلَّا يُسَبِّحُ بِحَمۡدِهِۦ وَلَٰكِن لَّا تَفۡقَهُونَ تَسۡبِيحَهُمۡ ﴾[1] «اوه آسمانونه او ځمکه او هغه څه چي په ځمکه او آسمانو کښې دي د الله پاکي بيانوي، او هر شی د الله پاکي بيانوي خو تاسې پرې نه پوهيږئ».

(١) الإسراء (٤٤).

او همدا راز شیطانان او پیریان په ځمکه کښې ګرځي، او پیریان پیغمبر ﷺ ته ورغلل او د هغه قرائت ته په اوریدو سره غوږ شول، او بیا خپل قوم ته ستانه شول چې هغوی وویروي، او له دې سره سره بیا هم هغوی زمونږ څخه پټ دي.

او په دې باره کښې الله تعالی فرمایي: ﴿ يَٰبَنِيٓ ءَادَمَ لَا يَفۡتِنَنَّكُمُ ٱلشَّيۡطَٰنُ كَمَآ أَخۡرَجَ أَبَوَيۡكُم مِّنَ ٱلۡجَنَّةِ يَنزِعُ عَنۡهُمَا لِبَاسَهُمَا لِيُرِيَهُمَا سَوۡءَٰتِهِمَآۚ إِنَّهُۥ يَرَىٰكُمۡ هُوَ وَقَبِيلُهُۥ مِنۡ حَيۡثُ لَا تَرَوۡنَهُمۡۗ إِنَّا جَعَلۡنَا ٱلشَّيَٰطِينَ أَوۡلِيَآءَ لِلَّذِينَ لَا يُؤۡمِنُونَ ﴾[1] «ای انسانانو شیطان تاسې ته

(۱) الأعراف (۲۷).

دوکه او فریب درنکړي لکه چي ستاسي پلار او مور (آدم او حوا) یې له جنت څخه را وایستل او له دوی څخه یې جامې وایستې، ددې لپاره چي عورت یې ورته وښایي، بې شکه شیطان او دده ډله تاسې له داسې ځایه ویني چي تاسې یې نه وینئ، بې شکه مونږ شیطانان د هغو کسانو لپاره دوستان ګرځولي دي چي ایمان نه راوړي».

نو کله چي مخلوقات هر موجود څیز نه شي درك کولای او په علم کې راوستلاي نو دا حق نه لري چي له هغو ثابتو غیبي شیانو څخه انکار وکړي چي دوی یې نه شي درك کولای او راګیرولای.

## (نـهم فصل)

## (شپږم رکن) په تقدیر باندې ایمان

**تقدیر**: هغه څه ته وایي چې الله تعالی د خپل علم او حکمت لـه مخې دکائنـاتو لپاره اندازه کړي (او په لوح محفوظ کښې لیکلي) دي.

**او په تقدیر باندې ایمان په څلورو شیانو مشتمل دی:**

**لمړی**: په دې باندې ایمان لـرل چې الله تعـالی په هر څه باندې -که دده افعال او کارونـه دي او کـه د بندګانو ـ داجمال او تفصیل په توګه ازلـي او ابدي علم لري.

**دوهم:** په دې باندې ايمان لرل چې الله تعالى دا هر څه په لوح محفوظ کښې ليکلي دي.

او ددې دواړو مسئلو په هکله الله تعالى فرمايي: ﴿أَلَمْ تَعْلَمْ أَنَّ ٱللَّهَ يَعْلَمُ مَا فِى ٱلسَّمَآءِ وَٱلْأَرْضِ ۗ إِنَّ ذَٰلِكَ فِى كِتَـٰبٍ ۚ إِنَّ ذَٰلِكَ عَلَى ٱللَّهِ يَسِيرٌ﴾[(١)] «آيا ته نه پوهيږې چې الله تعالى په هر هغه شي باندې علم لري چې په آسمان او ځمکه کښې دي، بې شکه دا په لوح محفوظ کښې (ليکل شوي) دي، بې شکه دا کار الله ته آسان دى».

---

(١) الحج (٧٠).

په صحيح مسلم کښې له حضرت عبد الله بن عمرو بن العاص v څخه روايت دی وايي چې ما له پيغمبر ﷺ څخه واوريدل چې ويې فرمايل: (كَتَبَ اللهُ مَقَادِيْرَ الْخَلاَئِقِ قَبْلَ أَنْ يَّخْلُقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ بِخَمْسِيْنَ سَنَةً)[1] «الله تعالی د مخلوقاتو تقدير د آسمانونو او ځمکې له پيداکولو څخه پنځوس زره کاله مخکې ليکلی دی».

**دريم:** په دې باندې ايمان لرل چې په ټولو کائناتو کښې د الله تعالی او مخلوقاتو هيڅ فعل د الله تعالی له ارادې څخه پرته نه تر سره کيږي.

---

(۱) صحيح مسلم (كتاب القدر، حديث ۲٦٥۳).

الله تعالى د خپل فعل په باره کښې فرمايي: ﴿ وَرَبُّكَ يَخْلُقُ مَا يَشَآءُ وَيَخْتَارُ ﴾[۱] «او ستا پروردگار هغه څه پيدا کوي او غوره کوي چې اراده يې فرمايي».

او فرمايي: ﴿ وَيَفْعَلُ ٱللَّهُ مَا يَشَآءُ ﴾[۲] «او الله هغه څه کوي چې اراده يې وفرمايي».

او فرمايي: ﴿ هُوَ ٱلَّذِى يُصَوِّرُكُمْ فِى ٱلْأَرْحَامِ كَيْفَ يَشَآءُ ﴾[۳] «الله هغه ذات دى چې د ميندو په ګېډو کښې ستاسې صورتونه چې څرنګه وغواړي

(۱) القصص (٦٨).
(۲) إبراهيم (٢٧).
(۳) آل عمران (٦).

جوړوي».

او د مخلوقاتو د فعل په باره کښې فرمايي: ﴿ وَلَوۡ شَآءَ ٱللَّهُ لَسَلَّطَهُمۡ عَلَيۡكُمۡ فَلَقَٰتَلُوكُمۡ ﴾[١] «که الله غوښتي وای نو دوی به يې هرومرو پرتاسو لاس بري کړي وو او هرومرو به له تاسې سره جنګيدلي وو».

او فرمايي: ﴿ وَلَوۡ شَآءَ رَبُّكَ مَا فَعَلُوهُۖ فَذَرۡهُمۡ وَمَا يَفۡتَرُونَ ﴾[٢] «او که ستا پروردګار غوښتي وای نو دوی به دا کار نه وو کړی، نو پريږده دوی او هغه

(١) النساء (٩٠).
(٢) الأنعام (١١٢).

څه چې دوی يې په دروغو جوړوي».

**ځلورم:** په دې باندې ایمان لرل چې ټول مخلوقات د ذات او صفاتو او کړو په لحاظ سره الله تعالی پیدا کړي دي.

الله تعالی فرمايي: ﴿ ٱللَّهُ خَٰلِقُ كُلِّ شَيۡءٖۖ وَهُوَ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ وَكِيلٞ ﴾[1] «الله د هر شي پیداکوونکی او پر هر شي ساتونکي او متصرف دی».

او فرمايي: ﴿ وَخَلَقَ كُلَّ شَيۡءٖ فَقَدَّرَهُۥ تَقۡدِيرٗا ﴾[2] «او هر شی يې پيدا کړي او اندازه کړي دي په اندازه کولو سره».

(۱) الزمر (٦٢).
(۲) الفرقان (۲).

او فرمايي چې دده پيغمبر ابراهيم عليه السلام خپل قوم ته وويل: ﴿ وَٱللَّهُ خَلَقَكُمۡ وَمَا تَعۡمَلُونَ ﴾[۱] «الله تاسې اوستاسې عملونه پیدا کړي دي».

**او په تقدير باندې په دې توګه ايمان ددې سره منافات نه لري چې بنده په خپلو اختياري افعالو كښې اراده او د هغې د ترسره کولو قدرت ولري، لکه چې شريعت او محسوسات دواړه ددې خبرې په ثبوت باندې دلالت كوي:**

(۱) الصافات (۹٦).

**شرعي دليل:** الله تعالى د ارادې په هكله فرمايي: ﴿ فَمَن شَآءَ ٱتَّخَذَ إِلَىٰ رَبِّهِۦ مَـَٔابًا ﴾[١] «نو څوك چې غواړي د خپل پروردگار لوري ته د ورگرځيدو ځاى دې غوره كړي».

او فرمايي: ﴿ فَأۡتُواْ حَرۡثَكُمۡ أَنَّىٰ شِئۡتُمۡ ﴾[٢] «نو راشئ خپل د كرلو ځاى ته څنگه مو چې خوښه وي».

او فرمايي: ﴿ فَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ مَا ٱسۡتَطَعۡتُمۡ ﴾[٣] «څومره چې توانيږئ له الله څخه وويريږئ».

(١) النبأ (٣٩).
(٢) البقرة (٢٢٣).
(٣) التغابن (١٦).

او فرمایي: ﴿ لَا يُكَلِّفُ ٱللَّهُ نَفۡسًا إِلَّا وُسۡعَهَاۚ لَهَا مَا كَسَبَتۡ وَعَلَيۡهَا مَا ٱكۡتَسَبَتۡ ﴾[1] «الله څوك نه مكلّف كوي مگر د هغه د توان په اندازه، د نيك كار ثواب به مومي او د بد كار سزا».

**دمحسوساتو دليل:** هر انسان پوهيږي چي اراده او توان لري چي په هغې سره يو څه كوي او يايې پريږدي، او (هر انسان) د هغه څه چي دده په اراده سره ترسره كيږي لكه تگ او د هغه څه چي دده د ارادې پرته كيږي لكه ريږدېدل تر منځ توپير كوي.

(۱) البقرة (۲۸٦).

لیکن د بنده اراده او قدرت (توان) د الله تعالی په اراده سره کار کوي، لکه چي الله تعالی فرمایي: ﴿ لِمَن شَآءَ مِنكُمۡ أَن يَسۡتَقِيمَ وَمَا تَشَآءُونَ إِلَّآ أَن يَشَآءَ ٱللَّهُ رَبُّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ﴾(۱) «ستاسي څخه د هغه چا لپاره چي د سمیدو اراده لري، او تاسي اراده نه شی کولای مگر دا چي د عالم پروردگار اراده وفرمایي».

او ځکه چي ټول وجود او کون د الله تعالی ملکیت دی، نو د ده په ملکیت کښې هیڅ شی د ده د علم او ارادې پرته نه شي کیدای.

**او په تقدیر باندې په دې توگه ایمان بنده تـه**

---

(۱) التکویر (۲۸- ۲۹).

**د واجباتو د پرېښودلو او د گناهونو د كولو دليل په لاس نــه وركــوي، او لــه همــدې كبلــه دده داســې استدلال كول (دليل نيول) له څو وجهو باطل دی:**

**لمړی**: الله تعالى فرمايي: ﴿ سَيَقُولُ ٱلَّذِينَ أَشْرَكُواْ لَوْ شَآءَ ٱللَّهُ مَآ أَشْرَكْنَا وَلَآ ءَابَآؤُنَا وَلَا حَرَّمْنَا مِن شَيْءٍ ۚ كَذَٰلِكَ كَذَّبَ ٱلَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ حَتَّىٰ ذَاقُواْ بَأْسَنَا ۗ قُلْ هَلْ عِندَكُم مِّنْ عِلْمٍ فَتُخْرِجُوهُ لَنَآ ۖ إِن تَتَّبِعُونَ إِلَّا ٱلظَّنَّ وَإِنْ أَنتُمْ إِلَّا تَخْرُصُونَ ﴾[1] «ژر ده چي مشركان به وايي كه الله غوښتي وای نو مونږ او زمونږ پلرونو به شرك نه وو كړی او نه به مو څه شی

---

(١) الأنعام (١٤٨).

حرام گرځولي وو، همدا راز تکذیب کړی وو له دوی نه مخکې خلکو، تر دې چې زمونږ عذاب یې وڅاکه، ووایه (ای پیغمبره) آیا ستاسې سره څه علمي سند شته چې مونږ ته یې راوباسئ، تاسې د گمان پرته د بل شي پیروي نه کوئ او تاسې اټکل کوئ».

او کـه چیـرې دوی پـه تقـدیر بانـدې ددې راز استدلال حق درلودای نو الله تعالی به دوی ته عذاب نه وو ورکړی.

**دوهم:** الله تعالی فرمایي: ﴿ رُّسُلاً مُّبَشِّرِينَ وَمُنذِرِينَ لِئَلَّا يَكُونَ لِلنَّاسِ عَلَى ٱللَّهِ حُجَّةُۢ بَعۡدَ ٱلرُّسُلِۚ وَكَانَ

ٱللَّهُ عَزِيزًا حَكِيمًا ﴾[1] «زيرى وركوونكي او ويروونكي پيغمبران ددې لپاره چي د پيغمبرانو (له استولو) وروسته له خلكو سره په الله باندې څه دليل نه وي او الله غالب ذات او د حكمت خاوند دى».

او كه چيرې تقدير د مخالفينو لپاره دليل كيداى شو نو د پيغمبرانو په را استولو به له منځه نه وو تللى، ځكه د پيغمبرانو له را استولو وروسته مخالفت خو (هم) د الله تعالى په تقدير سره تر سره كيږي.

**دريم:** هغه حديث چي بخاري او مسلم روايت

(١) النساء (١٦٥).

کړی دی او دا الفاظ د بخاري دي، له حضرت علي ابن ابي طالب ﷺ څخه روايت دی، چي پيغمبر ﷺ وفرمايل: (مَا مِنْكُمْ مِنْ أَحَدٍ إِلاّ قَدْ كُتِبَ مَقْعَدُهُ مِنَ النَّارِ أَوْ مِنَ الْجَنَّةِ، فَقَالَ رَجُلٌ مِّنَ الْقَوْمِ: أَلاَ نَتَّكِلُ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ؟ قَالَ: لاَ، اِعْمَلُوْا فَكُلٌّ مُّيَسَّرٌ، ثُمَّ قَرَأَ: ﴿ فَأَمَّا مَنْ أَعْطَىٰ وَٱتَّقَىٰ ﴾[1] الآية)[2] «ستاسې د هر کس لپاره په دوزخ يا جنت کښې ځای ليکل شوی دی، يو چا پوښتنه وکړه چي ای د الله پيغمبره چي (داسې ده)

---

(١) الليل (٥).

(٢) صحيح البخاري (كتاب تفسير القرآن، حديث٤٩٤٥،٤٩٤٦،٤٩٤٧،٤٩٤٩، كتاب القدر، حديث٦٦٠٥، كتاب التوحيد، حديث٧٥٥٢)، صحيح مسلم (كتاب القدر، حديث٢٦٤٧).

نو بیا توکل ونه کړو؟ (یعني عمل کول به پرېږدو) پیغمبر ﷺ وفرمایل: نه عمل وکړئ ځکه هر چا ته لاره هواره ده، او بیا یې دا پورتنئ آیت ولوست (چي معنی یې داده) هغه څوك چي ورکړه کوي او پرهیزګاري کوي»، او د مسلم په یو روایت کښې دي :(فَكُلٌّ مُّيَسَّرٌ لِمَا خُلِقَ لَهُ) یعني «هر څوك هغه څه کوي چي د هغې لپاره پیدا شوی وي».

نو پیغمبر ﷺ پـه عمل کولو امر فرمایلی دی او په تقدیر باندې له توکل او تکیه کولو څخه یې منع فرمایلې ده.

**څلورم**: دا چي الله تعالی بنده ته امر کړی دی او (لـه ځینو شیانو څخـه یـې) منـع کړی دی، خـو د

داسې څه منع او امر يې ورته کړی دی چې دده په توان کښې دي.

الله تعالی فرمايي: ﴿ فَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ مَا ٱسۡتَطَعۡتُمۡ ﴾(۱)

«له الله څخه د خپل توان په اندازه ووېرېږئ».

او فرمايي: ﴿ لَا يُكَلِّفُ ٱللَّهُ نَفۡسًا إِلَّا وُسۡعَهَا ﴾(۲)

«الله تعالی څوك نه مکلّف کوي مگر د هغه د وسع او توان په اندازه».

او که چیرې بنده عمل پخپل اختیار سره نـه تر سره کولای نو په داسې څه به مکلّف وو چې د هغې د تر سره کولو توان نه لري، او دا خو صحیح نه ده،

---

(۱) التغابن (۱٦).
(۲) البقرة (۲۸٦).

نو له همدې کبله کله چې د ناپوهۍ یا هیرې په وجه یا د بل چا د زور په نتیجه کښې څه کوتاهي ور څخه وشي نو گناه وربانډې نشته ځکه چې معذور بلل کیږي.

**پنځم**: دا چې د الله تعالی تقدیر یو پټ راز دی چې په تقدیر کښې د لیکل شوي شي د واقع کیدو څخه مخکې پرې څوك علم نه لري، او د بنده د یو څه کار د کولو اراده د هغې له کولو څخه مخکې وي، نو دده د یو کار کولو اراده د الله تعالی په تقدیر باندې په علم لرلو مبني نه ده، او په دې صورت کښې په تقدیر باندې دده استدلال صحیح نه دی، ځکه چې داسې شي د چا لپاره دلیل نه شي

کیدای چي علم پرې نه لري.

**شپږم**: دا چي مونږ گورو چي انسان د دنیا په کارونو کښي کوشش کوي چي هغه څه وکړي چي مناسب یې گڼي او داسې نه کوي چي دا پریږدي او داسې څه وکړي چي مناسب ورته نه ښکاري او بیا د هغې لپاره په تقدیر باندې استدلال وکړي، نو بیا ولې د آخرت په کارونو کښي هغه څه پریږدي چي ورته گټه رسوي او هغه څه کوي چي ورته تاوان رسوي او بیا په تقدیر باندې استدلال کوي؟ آیا دا دواړه (د آخرت او دنیا مسائل) یو شان نه دي؟!

د مثال په تو گه که د یو انسان مخې ته دوه لارې وي یوه لار یې داسې یوه وطن ته رسوي چي

هلته ډیره ګډوډي او قتل او لوټماري او په ناموس باندې تیری کول او ویره او لوږه وي، او بله لار یې داسې یوه وطن ته رسوي چې هلته مکمل نظم امنیت سوکالي او د خلکو د ځان او ناموس او مال احترام کیږي، نو په کومه یوه لار به روانیږي؟ دی به خامخا په دې دوهمه لار روانیږي چې د نظم او امنیت وطن ته یې رسیږي، او د یوه هوښیار (انسان) لپاره دا هیڅکله ممکنه نه ده چې د بې نظمۍ او د ویرې د وطن په لار ولاړ شي او بیا په تقدیر باندې استدلال وکړي (چې دا راته مقرره وه) نو ولې د آخرت په کارونو کښې د دوزخ په لار روانیږي نه د جنت په لار او بیا په تقدیر باندې

استدلال کوي؟

بل مثال: مریض ګورو چې د دوا امر ورته کیږي نو هغه څښي که څه هم زړه یې نه غواړي، اوله داسې خوراك څخه منع کیږي چې تاوان ورته رسوي او بیا یې پریږدي په داسې حال کښې چې زړه یې ورته کیږي، دا هر څه ددې لپاره کوي چې شفا او سلامتیا ترلاسه کړي، او دا ممکنه نه ده چې دوا ونه خوري یا داسې خوراك وکړي چې تاوان ورته رسوي او بیا په تقدیر باندې استدلال وکړي، نو بیا ولې انسان هغه څه پریږدي چې الله او د هغه رسول پرې امر کړی دی او هغه څه کوي چې الله او د هغه رسول منع ور څخه کړې ده او بیا په

تقدير باندې استدلال کوي؟

**اوم**: دا چې هغه څوك چې د واجباتو د پرېښودلو او د ګناهونو د کولو لپاره په تقدير باندې دليل نيسي که چا تيری ورباندې وکړ او مال يې لوټ کړ او يا يې په ناموس باندې تيری وکړ او بيا يې په تقدير باندې استدلال وکړ او ويې ويل: ما مه ملامتوه ځکه زما تيری د الله د تقدير په بنا باندې وو، دده دليل به ونه مني.

نو څنګه په ده باندې د بل چا د تيري په تقدير باندې استدلال نه مني او پخپله د الله په حق باندې د تجاوز په حال کښې په تقدير باندې استدلال کوي؟!

ويل کيږي چې امير المؤمنين عمر بن

الخطاب ﷺ ته ديوه غله – چي دلاس پرې كولو وړ وو- موضوع وړاندې شوه نو د لاس د پرې كولو امر يې وكړ، غله وويل: اى امير المؤمنين لږ صبر وكړه ما د الله تعالى په تقدير سره غلا كړې ده (يعني دا غلا كول ماته په تقدير كښې ليكل شوي وو) عمربن الخطاب ﷺ ورته وفرمايل: مونږ هم ستا لاس د الله په تقدير سره پرې كوو (يعني دا هم په تقدير كښې درته ليكل شوي دي چي لاس به دې پرې كيږي).

**او په تقدير باندې ايمان ډيرې مهمې فايدې لري چي د هغې له جملې څخه يو څه دا دي:**

۱- د اسبابو د په كار اچولو په وخت په الله

تعالى باندې اعتماد او بروسه کول نه په سبب باندې، ځکه چي هر څه د الله تعالى په تقدير سره تر سره کيږي.

٢- کله چي ديو چا مراد او مطلب تر سره شي نو بايد مغرور (په غوره کښې) نه شي؛ ځکه دا نعمت چي د الله تعالى له لوري يې ترلاسه کړ د خير او کاميابۍ د هغو اسبابو نتيجه ده چي الله تعالى ورته په تقدير کښې ليکلي وو، او غرور او ځان ته په غوره کښې کيدل ددې نعمت شکر پرځاى کول ور څخه هيروي.

٣- د الله تعالى په تقدير کښې ورته ليکلي څه چي ورته رسيږي د هغې په اړه ډاډ او اطمئنان او د

زړه آرامي پیدا کیدل، چي نه به د ناخوښي پیښي په وجه او نه د خوښ ځیز له لاس ورکولو په وجه تشویش او سودا کوي، ځکه دا هر څه د هغه ذات په تقدیر سره تر سره کیږي چي د آسمانونو او د ځمکي پادشاهي هغه لره ده، او دا کار حتماً کیدونکی وو، الله تعالی په دې باره کښي فرمایي: ﴿مَآ أَصَابَ مِن مُّصِيبَةٖ فِي ٱلۡأَرۡضِ وَلَا فِيٓ أَنفُسِكُمۡ إِلَّا فِي كِتَٰبٖ مِّن قَبۡلِ أَن نَّبۡرَأَهَآۚ إِنَّ ذَٰلِكَ عَلَى ٱللَّهِ يَسِيرٞ لِّكَيۡلَا تَأۡسَوۡاْ عَلَىٰ مَا فَاتَكُمۡ وَلَا تَفۡرَحُواْ بِمَآ ءَاتَىٰكُمۡۗ وَٱللَّهُ لَا يُحِبُّ كُلَّ مُخۡتَالٖ فَخُورٍ﴾[1] «په ځمکه او ستاسي په

(۱) الحدید (۲۲- ۲۳).

ځانونو کښې چې هر مصيبت رسيږي له دې نه مخکې چې مونږ يې پيدا کړو په لوح محفوظ کښې (ليکل شوی) دی، دا کار الله ته آسان دی، دا ددې لپاره چې په هغه څه خفه نه شئ چې له لاسه مو وتلي وي او پر هغه څه (د تکبر او غرور په توګه) خوښ نه شئ چې تاسې ته يې درکړي دي، او الله هيڅ متکبر (مغرور) او فخر کوونکئ نه خوښوي».

او پيغمبر ﷺ فرمايي: (عَجَباً لِّأَمْرِ الْمُؤْمِنِ؛ إِنَّ أَمْرَهُ كُلَّهُ خَيْرٌ، وَلَيْسَ ذلِكَ لِأَحَدٍ إِلاَّ لِلْمُؤْمِنِ، إِنْ أَصَابَتْهُ سَرَّاءُ شَكَرَ فَكَانَ خَيْرًا لَّهُ وَإِنْ أَصَابَتْهُ ضَرَّاءُ صَبَرَ فَكَانَ خَيْراً

لَّهُ[(۱)] «د مؤمن شان ته تعجب دی، په هر حالت کښې يې خير دی، او دا د مؤمن پرته د بل چا لپاره نشته، كه خوشحالي ورته ورسيږي نو شكر وباسي او په دې كښې دده خير دی، او كه تكليف ورته ورسيږي نو صبر وكړي او په دې كښې (هم) د ده خير دی».

**د تقدير په باره كښې (هم) دوه ډلې گمراه شوې دي:**

**لمړی ډله:** جبريه دي چي وايي: بنده بې اختياره عمل تر سره كوي او هيڅ اراده او قدرت نه لري.

---

(۱) صحيح مسلم (كتاب الزهد والرقائق ، حديث۲۹۹۹).

**دوهمه ډله**: قدریه دي چي وایي: بنده په خپل عمل کښنې د ارادې او قدرت په لحاظ مستقل دی او د الله تعالی اراده او قدرت پرې څه اثر نه لري.

**پر لمړی ډله (جبریه) باندې د شرعي او حسي دلائلو له مخې رد:**

**د شرعي دلیل له مخې (رد)** دادی چي الله تعالی بنده ته اراده او اختیار ثابت کړی دی او د عمل نسبت يې ورته کړی دی، فرمایي: ﴿ مِنكُم مَّن يُرِيدُ ٱلدُّنْيَا وَمِنكُم مَّن يُرِيدُ ٱلْأَخِرَةَ ﴾[1] «ستاسي

---

(۱) آل عمران (۱۵۲).

ځینې کسان دنیا غواړي او ځینې کسان مو آخرت غواړي».

او فرمایي: ﴿ وَقُلِ ٱلۡحَقُّ مِن رَّبِّكُمۡۖ فَمَن شَآءَ فَلۡيُؤۡمِن وَمَن شَآءَ فَلۡيَكۡفُرۡۚ إِنَّآ أَعۡتَدۡنَا لِلظَّٰلِمِينَ نَارًا أَحَاطَ بِهِمۡ سُرَادِقُهَا ﴾[1] «او ووایه (ای پیغمبره) حق ستاسې د پروردګارله لوري دی، نو څوك چې غواړي ایمان دې راوړي او څوك چې غواړي کافر دې شي، بې شکه مونږ د ظالمانو لپاره داسې اور تیار کړی دی چې د هغې پردې به تر دوی چاپیره وي».

(١) الكهف (٢٩).

او فرمایي: ﴿ مَّنۡ عَمِلَ صَٰلِحٗا فَلِنَفۡسِهِۦۖ وَمَنۡ أَسَآءَ فَعَلَيۡهَاۗ وَمَا رَبُّكَ بِظَلَّٰمٖ لِّلۡعَبِيدِ ﴾[1] «**څوك چي نیك عمل** تر سره کړي نو (ګټه او ثواب یې) د خپل ځان لپاره دی، او څوك چي بد عمل تر سره کړي نو (تاوان او سزا) به یې ورته ورسیږي، او ستا پروردګار په بندګانو باندې ظلم کوونکئ نه دی».

**او د حسي دلیل له مخې (رد)** دادی چي هر انسان د خپلو هغو اختیاري افعالو چي پخپله اراده سره یې تر سره کوي لکه خوراك کول څښل خرڅول اخیستل او هغه څه تر منځ په فرق او

(۱) فصلت (٤٦).

تـوپیر پـوهیږي چـي دده د ارادې پرتـه پـرې راځـي لکه د تبې او مرض په وجه ریږدیدل (رپیدل) اولـه بام (چت) څخه رالویدل، ځکه چي په لمړي حالت کښـې پخپـل اختیـار او ارادې او د چـا لـه زور پرتـه کار تر سره کوي او پـه دوهم حالـت کښې چي څـه پرې راغلي دي د هغې په هکلـه څـه اختیـار او اراده نه لري.

**او پـه دوهمـه ډلـه ( قدریـه ) بانـدې د شـرعي او حسي دلائلو له مخې رد:**

**د شرعي دلیل له مخې رد** دادی چي الله تعالی د هر څه پیدا کوونکی دی او هر څه دهغه په اراده تر سره کیږي، او الله تعالی په خپل کتاب (قرآن

کریم) کښې دا بیان کړې ده چې د بندګانو افعال د هغه په اراده سره تر سره کیږي، فرمایي: ﴿ وَلَوۡ شَآءَ ٱللَّهُ مَا ٱقۡتَتَلَ ٱلَّذِينَ مِنۢ بَعۡدِهِم مِّنۢ بَعۡدِ مَا جَآءَتۡهُمُ ٱلۡبَيِّنَٰتُ وَلَٰكِنِ ٱخۡتَلَفُواْ فَمِنۡهُم مَّنۡ ءَامَنَ وَمِنۡهُم مَّن كَفَرَۚ وَلَوۡ شَآءَ ٱللَّهُ مَا ٱقۡتَتَلُواْ وَلَٰكِنَّ ٱللَّهَ يَفۡعَلُ مَا يُرِيدُ ﴾[1] «که الله غوښتي وای نو د پیغمبرانو امتونو به له دې وروسته جنګ او اختلاف نه وو کړی چې روښانه معجزې ورته راغلي، لیکن دوی وجنګیدل (او اختلاف یې وکړ) نو ځیني مؤمنان شول او ځیني کافران، او که الله غوښتي وای نو نه به وو جنګیدلي، خو لیکن الله

(۱) البقرة (۲۵۳).

هغه څه كوي چي اراده يې وفرمايي».

او فرمايي: ﴿ وَلَوۡ شِئۡنَا لَأٓتَيۡنَا كُلَّ نَفۡسٍ هُدَىٰهَا وَلَٰكِنۡ حَقَّ ٱلۡقَوۡلُ مِنِّى لَأَمۡلَأَنَّ جَهَنَّمَ مِنَ ٱلۡجِنَّةِ وَٱلنَّاسِ أَجۡمَعِينَ ﴾(١) «او كه مونږ غوښتي واى نو هر چاته به مو هدايت ورپه نصيب كړى وو، خو ليكن ما دا وينا (فيصله) كړې ده چي هرو مرو به دوزخ له پيريانو او انسانانو څخه ډكوم».

**او د عقلي دليل له مخې رد** دا دى: چي ټول كائنات (وجود) د الله تعالى ملكيت دى، او انسان چي د كائناتو يو جز دى هم د الله تعالى ملكيت دى،

(١) السجدة (١٣).

او دا ممكنه نه ده چي مملوك د خپل مالك (بادار) په ملكيت كښې د هغه د اجازې او خوښې پرته څه تصرف وكړي.

## (لسم فصل)

## (د اسلامي عقيدې اهداف)

**هدف:** په لغت کښې ډيرې معناوې لري، او يوه معنی يې غرض (او مقصد) ده چې هغې ته د رسيدو لپاره کوښښ کيږي، او هر مقصود شي ته هدف ويل کيږي.

**د اسلامي عقيدې اهداف** : د هغې مقاصد او اوچت اغراض دي، چې په هغې باندې د منګلو لګولو په حال کښې پرې مُرَتَّب کيږي، او هغه اهداف ډير زيات او ډول ډول دي، چې دهغې له جملې څخه ځينې دادي:

**لمړی:** نيت او عبادت يوازې د الله لپاره

خالص گرځول؛ ځکه چي هغه پيدا کوونکی ذات دی او هيڅ شريك نه لري، نو واجب ده چي هغه ته مو مخ وي او رضا مو يې مطلب وي او يوازې د هغه عبادت او بندگي وکړو.

**دوهم:** عقل او فکر له گډوډو سوچونو څخه پاکول کوم چي هغه وخت پيدا کيږي چي زړه له دې (سوچه) عقيدې څخه خالي وي، ځکه د چا زړه چي له دې عقيدې څخه خالي وي نو يا خو به له هرې عقيدی څخه خالي وي او د محسوس ماديت عبادت به کوي او يا به په عقيدوي گمراهيو او خرافاتو کښې مبتلا وي.

**دريم:** نفسي او فکري آرامي (ځکه څوك چي دا سپيڅلي عقيده ولري) نه به نفسي تشويش او سودا

ورسره وي او نه فکري بې ثباتي؛ ځکه دا عقیده د مؤمن له خپل پروردگار سره تعلق جوړوي، نو هغه دیوه تدبیر کوونکي پروردگار او شریعت وضع کوونکي حاکم په صفت مني، نو د هغه په تقدیر یې زړه مطمئن وي او د اسلام لپاره یې سینه پراخه وي او د هغې په بدل کښې هیڅ شی نه غواړي.

**څلورم**: د الله تعالی په عبادت او له خلکو سره په تعامل او معامله کښې د نیت او عمل سلامتیا او صفایي، ځکه د دې عقیدې له بنسټونو څخه (یو هم) په پیغمبرانو باندې ایمان دی چې د هغوی - دعمل او نیکې لارې - پیروي په کښې ده.

**پنځم**: هر كار په قاطعه او جدي توګه تر سره كول، په داسې توګه چي د نيك عمل له هر چانس څخه دثواب په هيله استفاده كوي، او د ګناه د سزا له ويرې د هغې له هرې موقع څخه ځان ليرې ساتي؛ ځكه ددې عقيدې له بنسټونو څخه په بيا راژوندي كيدو او د عمل په بدله موندلو باندې ايمان لرل (هم) دي، الله تعالى فرمايي: ﴿ وَلِكُلٍّ دَرَجَٰتٌ مِّمَّا عَمِلُواْۚ وَمَا رَبُّكَ بِغَٰفِلٍ عَمَّا يَعۡمَلُونَ ﴾(۱) «هر چا ته د هغوی د اعمالو درجې دي، او ستا پروردګار د هغوی له اعمالو څخه غافل نه دی».

---

(۱) الأنعام (۱۳۲).

او پيغمبرﷺ دې هدف ته د ترغيب په توګه فرمايي: (الْمُؤْمِنُ الْقَوِيّ خَيْرٌ وَأَحَبُّ إِلَى اللهِ مِنَ الْمُؤْمِنِ الضَّعِيْفِ وَفِيْ كُلٍّ خَيْرٌ، اِحْرِصْ عَلَى مَا يَنْفَعُكَ وَاسْتَعِنْ بِاللهِ وَلاَ تَعْجَزْ، وَإِنْ أَصَابَكَ شَيْءٌ فَلاَ تَقُلْ: لَوْ أَنِّيْ فَعَلْتُ كَانَ كَذَا وَكَذَا وَلكِنْ قُلْ: قَدَّرَ اللهُ وَمَا شَاءَ فَعَلَ، فَإِنَّ لَوْ تَفْتَحُ عَمَلَ الشَّيْطَانِ)[1] «قوي مؤمن له ضعيف مؤمن څخه غوره او الله ته زيات خوښ دی او په دواړو کښې خير دی، څه چې ګټه درته رسوي هغې ته زياته توجه کوه، او له الله څخه مرسته غواړه او مه کمزورئ کيږه، که څه درته ورسيدل نو داسې مه

(١) صحيح مسلم (كتاب القدر، حديث٢٦٦٤).

وایه چي که مې (داسې) کړي وای نو داسې او داسې به شوي وو، بلکه وایه چي الله راته مقرر کړي دي او چي څه يې غوښتل هغه يې وکړل، ځکه د «لو» لفظ[1] د شيطان عمل پرانيزي».

**شپږم**: د يو داسې قوي امت جوړول چي د خپل دين او د هغې د تقويې په لار کښې هر ډول قرباني ورکوي او په دې لار کښې چي څه ورته رسيږي د هغې پروا نه ساتي، او په دې هکله الله تعالى فرمايي:

﴿ إِنَّمَا ٱلۡمُؤۡمِنُونَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ بِٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ ثُمَّ لَمۡ يَرۡتَابُواْ

(۱) په پښتو کښې ددې لفظ معنى ته ورته داسې ويل کيږي: «که چيرې داسې شوي وای، يا مې داسې کړي وای، يا يې داسې کړي وای» (ژباړن).

وَجَٰهَدُواْ بِأَمۡوَٰلِهِمۡ وَأَنفُسِهِمۡ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِۚ أُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلصَّٰدِقُونَ ﴾[1] «بې شکه مؤمنان هغه کسان دي چې په الله او د هغه پر پیغمبر ﷺ یې ایمان راوړی دی، او (له ایمان راوړو وروسته یې) شك نه دی کړی، او د الله په لار کښې یې په خپلو مالونو او ځانونو سره جهاد کړی دی، همدا کسان رښتیني دي».

**اوم:** د افرادو او ډلو په اصلاح کولو سره د دنیا او آخرت نیکبختۍ ته رسیدل او د ثواب او اکرامونو ترلاسه کول، او په دې هکله الله تعالی فرمایي: ﴿ مَنۡ عَمِلَ صَٰلِحٗا مِّن ذَكَرٍ أَوۡ أُنثَىٰ وَهُوَ مُؤۡمِنٞ

(١) الحجرات (١٥).

فَلَنُحۡيِيَنَّهُۥ حَيَوٰةً طَيِّبَةً ۖ وَلَنَجۡزِيَنَّهُمۡ أَجۡرَهُم بِأَحۡسَنِ مَا كَانُواْ يَعۡمَلُونَ ﴾[1] «هر نارينه يا ښځه چي د ايمان په حال كښې نيك عمل ترسره كړي نو مونږ به هرومرو ښه ژوند ورپه برخه كړو، او هرومرو به د هغو ښو اعمالو اجر او ثواب وركړو چي دوى به كول».

دا دي د اسلامي عقيدې ځينې اهداف، الله تعالى يې دې زمونږ او ټولو مسلمانانو نصيب كړي.

وصلّى الله تعالى وسلّم على خير خلقه محمد وعلى آله وصحبه أجمعين.

---

(۱) النحل (۹۷).

# د موضوعاتو فهرست

سریزه .................................................. ۳
لمړي فصل: د اسلام دین........................ ۷
دوهم فصل: داسلام ارکان........................ ۲۰
دریم فصل: د ایمان ارکان ......................... ۳۰
څلورم فصل: په الله تعالی باندې ایمان .......... ۳۳
پنځم فصل: په پرښتو باندې ایمان ............... ۷۷
شپږم فصل: په کتابونو باندې ایمان ............ ۹۲
اوم فصل: په پیغمبرانو باندې ایمان ................. ۹۷
اتم فصل: دآخرت په ورځ باندې ایمان ........ ۱۱۸
نهم فصل: په تقدیر باندې ایمان ............... ۱۶۹
لسم فصل: د اسلامي عقیدې اهداف ........... ۱۹۹
د موضوعاتو فهرست ............................ ۲۰۷